


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د منځني ختيځ لوبغاړی

(په منځني ختيځ او سيمه کې د قاسم سليماني رول، د سليماني وژنه او غبرګونونه،
له سليماني وروسته د سيمې او منځني ختيځ وضعيت)

**ليکوال: عزيزاحمد (فضلي)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | د منځني ختيځ لوبغاړی |
| لیکوال | : | عزيزاحمد (فضلي) |
| خپرندوی | : | د ستراتيژيکو او سيميزو مطالعاتو مرکز |
| ډيزاين چارې | : | سمع الله عتيد |
| د چاپ کال | : | ۱۳۹۸هـ ش / ۲۰۲۰م |
| چاپ وار | : | لومړی |
| چاپ شمېر | : | ۱۰۰۰ ټوکه |

**0764732929/ 0749575007**


د چاپ بشپړ حقوق يې له ليکوال سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لړلیک

سرلیک — مخ

**د پیل خبرې**: ........................................ 7
**قاسم سلیماني څوک وو**: ........................................ 10
پیدایښت: ........................................ 10
نظامي ژوند او تجربه: ........................................ 10

**د قاسم سلیماني د وژلو په تړاو غبرگونونه**: ........................................ 21
روسیه: ........................................ 21
چین: ........................................ 21
اسرائیل: ........................................ 22
سوریه: ........................................ 22
پاکستان: ........................................ 22
عراق: ........................................ 22

(c) ketabton.com: The Digital Library


امريکا: ........................................................................24
ملګرې ملتونو : ..................................................................25

**افغانستان**:.....................................................................25
ا رګ: ..........................................................................26
د ولسمشر دوهم معاون سرور دانش: ......................................26
کرزی: ........................................................................26
اجرائيه رئيس عبدالله عبدالله:............................................27
عطامحمد نور: ..............................................................27
محمد محقق: ..................................................................27
رحمت الله نبيل: ..............................................................27
حنيف اتمر: ..................................................................28
**ايران**: ........................................................................28
**قدس ځواکونه څوک دي او څه کوي**:...................................32
قُدس د ايران ټولې متحدې نيابتي ډلې کنټرولوي:......................33
د قدس ځواکونو ماموريت:...................................................34

**اوس وخت کې د دې ډلې ماموريتونه**: ...................................34
لبنان: ...........................................................................34

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوریه: ............................................................34
عراق: ............................................................34
یمن: ............................................................35
افغانستان:............................................................35
د غزې تړانګه: ............................................................35
قدس ځله د سپاه او اطلاعاتو وزارت د کار د وېش محصول ده: . . .
35............................................................
د قاسم سلیماني د قدس ځواک:............................................................40

**د قدس ځلې د نوې قوماندې اصلي هسته**: ............................................................41
د قدس ځلې په و ړاندې ننګونې څه دي:............................................................43
د سپاه پاسدا رانو لخوا دا وکراینې الوتکې راغورځول:............................................................45
د ا وکرایني الوتکې د ویشتلو پر وړاندې د ا وکراین حکومت غبرګون:
46............................................................

**د سلیماني وژنه، د ایران انتقام او سیمه د یو بل بحران په لور**: ......47
ایران مجبور دی غبرګون وښیي: ............................................................48
د امریکا د حداکثر فشار پالیسي: ............................................................48
د ایران ستراتیژي: ............................................................49
د امریکا او ایران ترمنځ مخامخ جګړه: ............................................................50

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د سليماني وژنه او افغانستان**: ..........................................52
افغانستان ته ځينې متوجه احتمالي ګواښونه:..........................53
که جګړه ونښلي ، زموږ ګټه به څه وي: ..................................55
افغان حکومت باید څه وکړي: ...............................................57

**د قدس ځواکونو نوی قوماندان اسماعيل قاآني**: ..........................58
باميانو ته د قاآني د تګ ادعاوې: ...........................................61
قاآني به د سليماني په څېر اغېز ولري: ...................................62
**اخيځليکونه**:................................................................63

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د پیل خبرې

ایران یو له هغو هېوادونو څخه ده چې موږ ورسره ګډه پوله، مذهبي، کلتوري، اقتصادي او سیاسي مشترکات لرو، ایران د هغو هېوادونو څخه دی چې زموږ په هېواد کې له بل هر ګاونډي هېواد څخه زیات دخیل دی، د نوموړي هېواد په ملکي او نظامي برخو کې بدلون په مستقیم او غیر مستقیم ډول زموږ پر هېواد او سېمې باندې اغیزه لري.

د ایران د وسلوال پوځ(سپاه)کې یو ډیر لوی او مهم بدلون په بغداد کې د امریکایي ځواکونو لخوا د قدس ځواکونو د قومندان جنرال قاسم سلیماني وژل او دې پوسټ ته د ایران لخوا د

(c) ketabton.com: The Digital Library


اسماعيل قاآني نومول ، د ايران او امريکا ترمنځ ترينګلي حالات او په منځني ختيځ کې تشنج او بحران دی.

د ايران د وسلوال پوځ(سپاه)قدس ځواکونه يو له هغو ځواکونو څخه دي چې زموږ د هېواد او سېمې په امنيتي او سياسي وضعيت خپل مستقيم اغيز درلودلی شي.

د امريکايي ځواکونو لخوا د سليماني تر وژل کيدو وروسته زموږ د هيواد والو په ذهنونو کې يو ډول پوښتنې راپيدا شوي او افغان ولس يې په يو تزلزل او له ډار څخه په ډکې فضاء کې تر اوسه نيولی.

قاسم سليماني څوک وه او ولې ووژل شو، د سليماني د وژنې اړوند په نړيواله کچه بېلابېل غبرګونونه، د قدس ډلې پېژندنه، ايران او امريکا به مخامخ جګړه وکړي ، د ايران او امريکا په جګړه کې موږ بايد څه وکړو او د چا پلوي وکړو، د ايران او امريکا جګړه به زموږ په ګټه وي او که په زيان او زموږ دولت بايد څه وکړي. دا پورته موضوعات به تاسې په دې کتاب ولولئ.

د منځني ختيځ لوبغاړی زما يو له مهمو کتابونو څخه ده، چې ما په اوسنيو شرايطو کې د موضوع ارزښت ته په کتو د يوې مياشتې په دوران کې وليکه، ترڅو ددې موضوع په اړه خپل ولس او هېوادوالو ته معلومات ورکړم، تر څو ترې د سيمزو چارو شنوونکي، مسلکي تاريخ ليکونکي او ليکوالان ددغه ليکنې په استناد تحليلي ليکنې او تاريخ وليکلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا چې موضوع ډېره مهمه وه او په ډېره کمه موده کې مې ولیکله او معلومات مې ژر د بېلابېلو سرچینو څخه راټول کړل نو دا یو څرګند حقیقت دی چې داکتاب به له تیروتنو او نیمګړتیاوو څخه خالي نه وي، نوځکه د ټولو د نظر خاوندانو او ګرانوو لوستونکو څخه هیله لرم چې زما نیمګړتیاوې راته په ګوته کړي ترڅو راتلونکي چاپ کې اصلاح شي.

په پای کې د ستراتیژیکو او سیمیزو مطالعاتو د مرکز له علمي بورډ او رهبري څخه مننه کوم، چې زما دا اثر يې تایید او د چاپ پر ګاڼه سمبال کړ.

**په درنښـــت او افغانی مینـــــــه**

**عزیزاحمد (فضلي)**

کابل، تایمني د ۲۰۲۱م کال د فیبروري د میاشتې څلورمه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library


# قاسم سليماني څوک وو؟

جنرال قاسم سليماني د ايران د سپاه پاسدران لوړ پوړی افسر و، چې له ايران بهر يې د ايران د ګټو لپاره د جګړو مشري کوله، د ايران په بهرنۍ تګلاره کې مهم سړی بلل کېده، په سوريه کې د بشار الاسد د نظام پر خلاف د پاڅون په کمزوري کولو کې يې ډېر لاس درلود، همدارنګه يې په عراق کې هم د داعش ډلې پر خلاف يې ډېر فعاليت کړی و.

**پيدايښت:** قاسم سليماني د تېرې پېړۍ ۱۹۵۷ کال کې د مارچ په ۱۱مه د ايران کرمان ولايت په رابور ښار کې په يوه بزګره کورنۍ کې زېږېدلی و. د لمړني ښونځي د لوستلو په څنګ کې يې پر پلار باندې د دولت د نهه زره ريالو د قرض د اداء کولو لپاره ختګري کوله. د لمړني ښوونځي څخه په ۱۳ کلنۍ کې فارغ شو. په دغه کال يې کلی پريښود. که يې ۴۵ ورځنی عسکري تعليم حساب نه کړو نو زدکړې يې فقط پنځه کاله لمړني ښونځي پورې محدودې دي.

**نظامي ژوند او تجربه:** په اتلس کلنۍ کې د ايران د اوسني لېډر خميني د يو شاګرد د مجلسونو سره اشنا شو. د خميني د انقلاب پر وخت۲۲ کلن وو چې د مهاباد د کردانو د قيام سرکوبولو ته واستول شو. کردان يې سرکوب کړل د سپاه پاسداران انقلاب (سپاه) صادق غړی وګڼل شو.

د ايران او عراق د جنګ په لويو عسکري عملياتو کې کامياب شو. د دغه ځايه يې مهم روابط جوړ کړل چې ټول عمر يې استفاده ځنې وکړله. په ايران کې تر اوسه پورې د ايران عراق د جنګ هغه قومندانان چې صادق ثابت شوي دي په لوړو مقامونو کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


قاسم سليماني د ډيسپلين امتحان د ايران په ختيځ سستان بلوچستان کې ورکړی. هلته يې د سنيانو په منځ کې د مخدره موادو د قاچاقبرانو او د لويو لارو د غلو سره په مقابله کې په سلګونه شعيه عسکر له لاسه ورکړل خو کلک نظم يې راوستی وو، په ۱۹۹۷ کې ايران په يو حساس حالت کې وو. د ايران جمهور رئيس محمد خاتمي د ( سپاه) قوت ختمول غوښتل خو ديني لېډر خامنه يی برعکس سپاه نوره هم قوي کوي. د ايران ختيځو سرحدونو ته سني پښتانه طالبان پراته ول. ايران خپل دا سرحدونه مصؤن نه حسول. طالبان يې د پاکستان او سعودي خلک بلل د خپل ځان لپاره يې غټ تهديد حسوي. نو شخصاٌ خوميني ، قاسم سليماني د سپاه په چوکاټ کې د زورور لښکر ( سپاه قدس) مشر و ټاکه. په ۱۹۹۷ کې د سليماني د ټاکل کېدو لوی سبب دا وه چې سليماني په افغانستان کې ډېر بلد وه. له هغه وخته تر نن ورځې خومينی د قاسم سليماني څخه هېڅ ډول ملاتړ نه دی سپمولی. ايرانی خبرپاڼه آپارات د سليماني په هکله ليکي " خاور ميانه روی انګشت اين مرد ميچرخد" هغه عراقي چارواکي چې د قاسم سليماني سره يې شناخت درلود. د هغوی څخه د ۲۰۰۷ او ۲۰۰۹ کلونو تر منځ د امريکا سفير (راين کراکر ) وپوښتل ايا سليماني ديندار مسلمان دی؟ هغوی جواب ور کړ چې د لمانځه لپاره جماعت ته ځي خو د هغه اصلي محرک او د مجادلې انګېزه پارس ملتګرايي ده.

په ۱۹۹۷ کې د سليماني د سپاه قدس د قومندان ټاکل کېدو سره دا ډله کرار کرار د استخباراتو په را ټولولو، د څوقصدونو او ترورونو، د تورو پيسو په جمع کونکې، د ورانکاری کولو او خاصو عملياتونو په دستګاه بدله شوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


سليماني چې د سپاه قدس مشر شو پر لبنان يې ډېر ژر تاثير وکړ. د دُرزي د قبيلې مشر وليد جُمبُلات وايي چې په لبنان کې د تصاميمو نيولو مرکز اصلي حزب الله نه دی. مستقيماً علي خامنه يي او قاسم سليماني لبنان اداره کوي. د لبنان د صدراعظم رفيق حريري په وژنه کې هم سليماني پړ ګڼل کيږي. کله چې سليماني د قدس د اردو مشر شو، اسراييل پس له شپاړسو کالو د جنوبي لبنان څخه ووتل. په ۲۰۰۶ کې چې د حزب الله او اسرايلو جنګ شو . د حزب الله په قرار ګاه کې سليماني خاص ځای درلود. د ۴۴ ورځو جنګ په جريان کې د شعيه ملېشو له خوا په عراق کې پر امريکايانو د حملو لړېدلو امريکايان حيران کړي ول. د نويارکر مجلې څخه ډيکسټر پيلسن وايي چې يو عراقي چارواکي را ته و ويل ، د لبنان او اسرايلو تر جنګ وروسته قاسم سليماني امريکايي قومندانانو ته داسې مسيج لېږلی وو؛ " اميد لرم چې دا څو ورځې مو په بغداد کې پر ارامی او سکونت خوند اخيستی وي. زه په بيروت کې يو څه مصروف وم".

په افغانستان کي قاسم سليماني د طالبانو په مقابل کې شمالي اتحاد سخت تقويه کړی خو بيا هم دلته ايران خپل ډېر قوت له لاسه ورکړی وو . په ۲۰۰۱ کې چې د امريکا پر تجارتي مـر کز حمله وشوله، پر القاعده تاوان شوله او امريکا پر افغانستان د حملې اعلان وکړ. دا د ايران لپاره د اختر ورځ وه. ځکه د ايران له نظره طالبان د ايران د لوی رقيب سعودي خلک ول . نو ايران د امريکا سره د پټو دروازو شاته اتفاق وکړ. په جينيوا کي د امريکايي او ايراني چارواکو تر منځ يو لړ کتنې وشولې. ايرانيانو د امريکايانو مخ ته يوه نقشه کېښوله. په نقشه کې د طالبانو او نورو سني مسلحو ګروپونو د کمپونو، عسکري فرقو، د اسلحو د ډيپوګانو موقعيتونه د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library


جزياتو سره موجود ول. ايراني هيئت امريکايي هيئت ته وويل، دا هغه هدفونه دي چې موږ يې ويشتل او محوه کېدل غواړو. د امريکايي هيئت غړی راين کراکر وايي چې ما ايرانيانو ته وويل ددې نقشې څخه ځينې نوټونه اخيستلای شو؟ ايرانيانو وويل چې ټوله نقشه اخيستلای شئ. دا نقشه ستاسو ده. راين کراکر وايي چې هغه وخت هم ايراني هيئت ته ټولې لار ښوونې قاسم سليماني کولې. تر ۲۰۰۲ پورې ايران او امريکا په افغانستان کې په ګډه کار کاوه. تر څو چې بوش ايران د شر محور وباله.

ايران د ۲۰۰۱ څخه تر ننه په افغانستان کې تقريباً تر نيم زياد حکومت په لاس کې اخيستی دی. د افغانستان ټول چارواکي ايران په پيسو،تروررونو باندې تطميع کړي دي. ايران وتوانېده چې د افغانستان سيکولر هزاره ګان او شيعه ګان مذهبي تندلاري کړي. د محرم په لسمه شيعه ګان داسې تندلاري کوي چې پايتخت، مزارشريف او هرات په بيرغونو او شعارونو داسې سينګاروي؛ ګواکې افغانستان سل فيصده شيعه مذهبه هيواد دی. ايران افغانه مېډيا په لاس کې واخيستله. پر افغاني ژبو يې خپله پارسي مسلطه کړله. د افغان واحد ملت داعيه يې د چيلنجونو سره مخامخ کړله. ايران افغان اقليتونه د افغان ملي هيواد پر ضد وروزل. مثلاً ايران د افغانستان په هر ولايت کې لمړی شيعه ګانو او بيا پارسي ژبو ته رسيدګي وکړله. ټول يې منظم او رهبري کړل. د افغانستان د هزاره ګانو ولايات لکه دايکنډی او باميان تر کابل د تهران امر ښه مني. پژواک تازه عکسونه خپاره کړي دي چې د قاسم سليماني نوی ځای ناستی اسماعيل قاآني او د سپاه بل قومندان په باميان کې د اوسني والي سره ازادانه ناست دي. همدا ډول په کندهار کې د احمدشاه بابا راوستلي شيعه کارګران ډېر لبرال،سوله

(c) ketabton.com: The Digital Library


خوښونکي او ازاد فکره خلک ول. خو په تېرو ۱۹ کالو کې ایران داسې حالت ته را ورسول چې اوس ټول د ایران سره روژه او اختر کوي، نه د افغانستان سره . په ۳ ملیونیز کندهار کې شعیه ګان نیم فیصد هم نه دي مګر د کندهار څخه پارلمان ته په یوولسو وکیلانو کې اول نمبر رایه یو شعیه اخیستې وه. په ۲۰۰۴ کې، یونس قانوني ته، په ۲۰۰۹، ۲۰۱۴ او ۲۰۱۹ کې عبدالله عبدالله ته د کندهار شعیه ګانو رایه مفته و رکړله. که څه هم دا شعیه ګان د پښتنو سره جوړ دي مګر تر شا یې ایران کلک ولاړ دی د پښتنو په مقابل کې یې قوي کوي. په تېرو انتخاباتو کې اشرف غني مکمل کندهار په لاس کې اخیستی وه خو بیا هم شعیه ګانو عبدالله ته ۳ زره رایې ور ټولې کړلې.

ایران هغه ټولې افغاني انکشافي پروژې تخریب کړلې چې هغه به واحد افغان ملت جوړوي او یا به یې ایران ته تاوان رسېده. مثلاً د اوبو پر بندونو یې حملې وکړلې. د ښارونو مرکزونه یې د سقوط سره مخامخ کړل. متنفذین او چارواکي یې ترور کړل. یا په پیسو یې رانیول. عبدالله، حامد کرزي غوندې لوی خلک د ایران په لاس کې ول. شعیه او یا پارسي ژبې د افغانستان مشران د یوه سره د ایران خلک دي. په ټول افغانستان کې ایران ننوتلی دی. په افغانستان کې د ایران مداخلې ټولې د قاسم سلیماني تر مشري لاندې کېدلې. هزاره او ځیني تاجک مشران قاسم سلیماني (حاجي قاسم) بولي. د خدای دوني اطاعت نه کوي لکه د حاجي قاسم.

په افغانستان کې د ایران رول او نفوذ د افغانستان تر هر همسایه زیاد دی. په تېرو ۲۳ کلونو کې د حاجي قاسم په افغانستان کې پر مداخلې باندې د ماسټرۍ او دوکتورا تیزسونه هم نسي

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسېدلای. خو له بده مرغه په دې هکله څېړنې او مقالې بيخي موجودې نه دي.
يادونه: د قاسم مرګ افغانانو ته دا چانس ورکړی چې په خپل دولت کې د ايران ننوتل ووينې. که په پاکستان کې ورته پيښه وشي شايد د افغانستان ټول ارګانونه مالوم شي چې د پاکستان په لاس کې دي. امريکا په افغانستان کې خپل کار کوي. د افغانانو استراحت او امنيت يې تر افغانانو زورورو ته ورپريښی دی.
ايران په ۲۰۰۲ کې پوه شوی وه چې امريکا د اشغال دوهم هدف عراق ټاکلی دی. د مخکې څخه يې تياری نيولی وو. د دې تياري کوردیناتور هم قاسم سليماني وو. د ايران تخمين رښتيا شو. امريکا، عراق اشغال کړ. ايران له مخکې يو لوی قوت برابر کړی وو تر څو د ايران نيابتي جنګ په عراق کې مخ ته يوسي.
د مهدي اردو، د حزب الله لېوا، د بدر لېوا او د عصائب اهل الحق؛ د ايران حمايه کړي هغه شعيه ګروپونه ول چې د ايران د لوی دښمن صدام حسين د را نسکورولو لپاره يې د امريکا سره همکاري وکړله. د صدام حسين د نسکورېدو وروسته دغو ګروپونو پر امريکايانو اسلحې را واړولې. امريکا ته د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۶ په منځ کې تر ويټنام وروسته تر ټولو ډېر تلفات په عراق کې ور واوښت.
د کلينټن د جمهوري رياست د وخت د تروريزم سره د مجادلې د ادارې يو مهم مامور( ريچارډ کلا رک) والسترېټ ژورنال ته ويلي دي چې"قاسم سليماني يو شيطاني نابغه دی چې په منطقه کې د ايران د نفوذ د زياتېدو لپاره کار کوي".
په سوريه کې د عراق د حکومت د جوړولو لپاره ايران، حزب الله او ترکيه سره را ټول شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library


ول. قاسم سليماني هم په دې غونډه کې وه. هغه وخت ټولو خبري اژانسونو وويل چې سليماني پر ټولو اړخونو زور راوړ چې مالکي صدراعظم شي. همداسې وشول. د عراق د لېډرانو څخه جمهور ريس جلال طلباني يو د هغو کسانو څخه وو چې د سليماني سره يې ډېر ملاقاتونه کول. په ۲۰۱۰ کې د نهو مياشتو سختو مذاکراتو وروسته امريکايانو، د ايران له ملاتړه برخمن مالکي صدراعظم کړ. امريکايانو غوښتل چې مالکي په عراق کې د امريکايانو پاته کېدل و غواړي. دا کار کېدونکی وو خو قاسم سليماني کله مساعده کوله. ډيکسټر فيلکينس وايي چې قاسم سليماني په مذاکراتو کې دوه شرطه درلودل. يو د ايران سره ښه روابط درلودونکی جلال طلباني بايد جمهور رئيس پاتې شي او بل مالکي او د حکومت د ائتلاف غړي به پر دې اسرار کوي چې امريکايان به په تمامه مانا له عراقه وزي. همداسې وشول.

د قاسم سليماني رول به چې په جنجالونو کې هر څومره ډېر وو خو چا قاسم سليماني هلته نشواى ليدلاى. ګارډين ورځپاڼې ته يو امريکايي چارواکي سليماني داسې معرفي کوي. "هغه يو بې رحمه دی. واک يې هر څوک په تعجب کې کوي. هغه په هر ځای کې دی او په هېڅ ځای کې هم نه دی.

د عراق د ملي امنيت پخوانی مشاور موفق ربعا وايي " قاسم سليماني د عراق تر ټولو زورور سړی دی. د هغه بې اجازې په عراق کې هېڅ هم نه کېږي". سپاه قدس چې سليماني يې قومندان وه نه يوائې په ايران کې، په ټول منځني ختيځ کې ساری نه لري. د منځني ختيځ تقريباً ټول شعيه ګروپونه يې پر ځان را تول کړي دي. داعش چې د عراق د نيمايي څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library


زیاده برخه ونیوله. سلیماني بیا ساحې ته راغي. په عراق کې یې د مالکي پر ځای عبادي صدراعظم کړ. په دې وخت کې سلیماني پر مېډیا تر هر وخت ډېر را ښکاره شو. د کومه وخته چې سلیماني د قدس د اردو قومندان شوی وه. خپل نوم او کړنې یې په دقت سره د مېډیا څخه پټولې. خو د داعش سره د مخامخ کېدو سره نور، قاسم په عراق کې د ایران د زور او قوت د نمایش سمبولیک نوم شو. د ایران رسمي او غیر رسمي خبري اژانسونو، ویبسایټونو هره ورځ د عراق په مختلفو نقطو کې، کله د عراقي اردو سره، کله د شعیه ملېشو سره، کله د پېشمرګه عسکرو سره د قاسم سلیماني عکسونه خپرول پیل کړل. بله مهمه خبره دا چې د داعش سره د جنګ لپاره د شعیه ملېشو څخه جوړ شوی حشدالشعبي ګروپ چې سلیماني د پردې تر شا قومنده ور کوله، د امریکایانو سره اوږه په اوږه د داعش په مقابل کې جنګېدل. داعش په ۲۰۱۴ کال په موصل کې خلافت اعلان کړ چې په درېیو کلو کې د عراق له خاورې پاک شول.

قاسم سلیماني په عراق کې ورځ تر بلې خپل واک زیاتوه. اخري ځل د ۲۰۱۹ د اکتوبر په میاشت کې چې د حکومت په مقابل کې مظاهرې شروع شولې، سلیماني بیا مطرح شو. د تهران او بغداد تر منځ اوه سوه صفحې پټ مالومات نویارک ټایمز خپاره کړل . نویارک ټایمز خبر خپور کړ چې د عراق مظاهرې د ایران مداخلې په مقابل کې وې. په دې وجه سلیماني بیا عراق ته راغلی.

اخري ځل امریکا د حزب الله لېوا بمبار کړله او سبب یې دا وښود چې حزب الله په کرکوک کې پر امریکایي اډه توغندۍ ور غورځولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په سوريه کې د ۲۰۱۱ کال د جنګ د شروع څخه مخالفين غالب ول. په ۲۰۱۳ کې چې په لمړي ځل قاسم سليماني مداخله وکړله د جنګ پله واوښتل. د اسد مخالفين کرار کرار پر شا کېدل. قاسم سليماني په سوريه کې تر روسيې او اسد دواړو ډېر متاثره وه. هلته يې ترکيه، امريکا، فرانسه په نيابتي جنګ کي پر شا وتمبول. د اسد چوکۍ يې ور وساتله. غيررسمي شمېرې وايي چې په سوريه کې دوه نيم زره ايراني عسکر مړه دي. د سليماني معاون خيرالله صمدي هم په سوريه کې ووژل شو.

په ۲۰۱۹ فبروري کې د منځني ختيځ مهمه بله پېښه دا وه چې د سورېې جمهور ريس بشرالاسد ايران ته ولاړ. دا دعوت سليماني جوړ کړی وو. د بشرالاسد استقبال ته سليماني ورغلی وو، د ايران خارجه وزير جواد ظريف نه وو. پر دې موضوع ظريف استعفا وکړله خو قبوله نه شوله.
د ۲۰۱۹ کال د اپريل په مياشت کې امريکا سپاه په رسمي ډول د تروررستو ګروپونو په ليست کې ثبت کړه. په دې ډول امريکا په لمړي ځل د يو دولت اردو په رسمي ډول تروريستي ګروپ اعلان کړ. ايران هم د امريکا د مرکزي قواوو قومنداني (CENTCOM) په رسمي ډول تروريست ګروپ اعلان کړه.

د ايران يو خبري چينل ته په اخري ځل سليماني وويل " ټرمپ چې تهديدونه کوي. هغه ته جواب ورکول زما وظيفه ده. د ټرمپ مخاطب زه يم. نه جمهور رئيس روحاني". تېر کال د جولای په مياشت کې سليماني په سوريه کې وه. هلته يې د ايران په حمايه کې عسکري ګروپونو ته امر وکړ د امريکا سره جنګ ته اماده اوسئ".
په يمن کې د مرکزي حکومت او سعودي عربستان د ائتلاف په مقابل کې حوثي وسلوال

(c) ketabton.com: The Digital Library


مقاومت هم قاسم سليماني تنظيمول.

د ۲۰۱۱ کال د مې په مياشت کې قاسم سليماني د ايران د قُم ښار په لوی ديني مرکز حقانيه مدرسه کې شاګردانو ته سيمينار و رکاوه. په دې سيمينار کي د لمړني ښونځي فارغ استخباراتي کس سليماني د ليدلوري پراخوالی ليدل کيږي. سليماني په سمينار کې وويل ، په منځني ختيځ او افريقا کې ټولنيز حرکتونه د انقلاب لپاره تر ټولو غټ امکانات راوړي. تاسو بايد خپل مسئوليتونه وپېژنئ. سليماني هغه وخت په سوريه کې مداخلې ته اشاره کوي او همدا رنګه خپل نيت ښکاره کوي چې عرب بهار به د ايران په ګټه استعمالوي. سليماني وايي.” نن ورځ د ايران ظفر يا ماته په مهران او يا خرم ښار کې نه مالوميږي. سرحدونه مو پراخ شول. په مصر، عراق، لبنان او سوريه کې به خپل ظفر وينو. دا ټول پر مختګونه د اسلامي انقلاب مېوې دي.

په دريم د جنوري د شپې د ۲ بجو پر شا او خوا چې قاسم سليماني په بغداد کې د طيارې کښته شو او هغه موټر ته وخاته چې ده ته منتظر وو. په همدې وخت کې يو راکټ را وتوغول شو. د امريکا په دې راکيټ د سليماني سره اوه کسان و وژل شول.

د سليماني شجاعت ،تدبير او ځيرکتيا ته په پام سره د ايران مذهبي مشر حضرت آيت العظمي خامنه اي تېر کال تر ټولو ستر پوځي نښان هغه ته و رکړ. د تېر ۱۳۹۷ کال د کب په مياشت کښې هغه ته (نشانِ ذوالفقار) ور کړ. نشان ذوالفقار د ايران ترټولو وياړمن پوځي نشان دی چې له اسلامي انقلابه وروسته په لومړي ځل د درستو قواؤ د ستر قوماندان په لاس ډګر جنرال سليماني ته و رکړل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ایت الله خامنه یي قاسم سلیماني ژوندی شهید باله او تېر کال یې د نښان ور کولو پر مهال دوعا کړې وه چې قاسم سلیماني دې ډېر کلونه وروسته شهید شي.

۵۸ کلن تورن جنرال قاسم سلیماني هغه مهال ډېر مشهور شو چې په عراق، بیا سوریه او د منځني ختیځ نورو هېوادونو کې د قدس ځواکونو رول بهرنیو رسنیو کې راپورته شو. ډېر په دې باور دي چې د لبنان د حزب الله ډلې د پوځي ځانګې ځار هم د قاسم سلیماني په غاړه و. په عراق کې د داعش پیدا کېدو او سوریه کې د کورنۍ جګړې پیلېدو سره قدس ځواکونه دې هېوادونو کې ډېر ښکېل شول او ان ایران خپله منلې چې قدس ځواکونو د سوریې جګړه کې د بشار الاسد ته ژمنو ځواکونو لارښوونه او ملاتړ کړی او دلته یې زرګونه شیعه وسلوال تمویل کړي، همدارنګه یې عراق کې د داعش له منځه وړلو لپاره شیعه ملېشې سمبال دي هرڅه قاسم سلیماني په ایران او سیمه کې پر یو مشهور کس بدل کړ.

ملاتړو او مخالفانو یې د سیوري قوماندان، نړیوال جنرال، د قوماندان اروا، مرموز قوماندان، د دښمن خپسکه، جنرال حاجي قاسم او څو نورو نومونه ور کړل. سره له دې چې قاسم ډېر انځورونه نه خپرول خو ځینې مهال یې د جګړې کرښه کې انځورونه خپرېدل چې ان ځینې د عراق د شیعه ملېشو له مشرانو سره هم دي. د نوموړي ستایلو کې په پارسي او عربي کې سندرې ویل شوي. نوم یې انیمېشن نړۍ او کمپیوټري لوبو ته هم رسېدلی؛ "د فارس خلیج جګړه" انیمېشن کې اتل دی چې د امریکایي بېړۍ د له منځه وړلو امر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ايران جوړ کمپيوتري لوبه کې "د دښمن خپسکه" ده، خو "واحدالنمر" او "بېټل فيلډ۳" کې يې کرکټر منفي او موخه يې وژل دي. د ايران ډېرو مشهورو سياسي او ټولنيزو شخصيتونو د قاسم سليماني د انځورونو خپرولو يا ستايلو سره د نوموړي لا مشهورتيا کې مرسته کړې ده، سليماني د ايران په بهرني سياست په ځانګړې توګه منځني ختيځ کې د خامنه يي ښی لاس بللی شي.

نوټ: ايران يو قوي دولت دی. د سليماني په وژل کېدو يې سيستم نه ړنګيږي. خو سليماني مهم وو. تر خامنه يي وروسته د ايران دوهم زورور کس وه. د سليماني د وژل کېدو پېښه به تر شا يو عالم پېښې نوري د ځانه سره راوړي.

## د قاسم سليماني د وژلو په تړاو غبرګونونه

د نوموړي وژل کېدو ته په نړيواله کچه بېلابېل غبرګونونه وښودل شول. يو شمېر هېوادونو پر ايران او امريکا غږ وکړ چې له تاوتريخوالي ډډه وکړي. خو د روسيې او پخپله د عراق په ګډون ځينو نورو هېوادونو د امريکا دا کړنه وغندله.

**روسيه:** مسکو خبرداری ورکړ چې دغه وژنه به کړکيچ لا زيات کړي.

**چين:** پيکينګ له ټولو خواوو په تيره بيا له امريکا وغوښتل چې له آرامی او زغم څخه دې کار واخلي او ويي ويل چې سوله او ثبات بايد برلاسی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**اسرائيل:** د اسرائيل صدراعظم بنيامين نتانياهو پر سليماني د حملې په اړه د ولسمشر ډونالډ ټرمپ پريکړه وستايله او ويې ويل هماغسې چې اسرائيل د خپل ځان د دفاع حق لري، متحده ايالات هم ورته حق لري.

**سوريه:** د سوريې د بهرنيو چارو وزارت د امريکا حمله بې رحمانه، خاينانه، جنايتکارانه يرغل وباله.

**پاکستان:** د اسلام آباد د بهرنيو چارو وزارت په منځني ختيځ کې پر وضعيت ژوره اندېښنه ښکاره کړه او هغه يې د سيمې د ثبات په وړاندې جدي ګواښ وباله.

**عراق:** د عراق د صدارت سرپرست عادل عبدل مهدي ظاهراً د سليماني او مهندس وژلو ته په اشاره دواړه شهيدان ياد کړل او هغوی يې د اسلامي دولت ډلې يا داعش په وړاندې بريا کې ستر سمبولونه وبلل، هغه وضعيت خطرناک وباله او وويل چې په عراق سيمه او نړۍ کې به د جګړې اور ته لمن ووهل شي.

مهدي د عراق د پارلمان يو اظطراري غونډه راوبلله او وويل چې بايد د عراق ملي حاکميت، ځمکنی بشپړتيا او امنيت د يقيني کولو لپاره پريکړه وکړي.

د عراق پارلمان 5جنوري 2020 \ 15 مرغومي 1398 د يکشنبې پر ورځ له دې هېواده د امريکايي ځواکونو د وتلو په تړاو قرارداد منظور کړ. پارلمان دا پرېکړه وروسته له هغه وکړه چې امريکا د ايران د القدس ځواک مشر جنرال قاسم سليماني د بغداد هوايي ډګر کې په يوه ډرون بريد کې وواژه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د پارلمان لخوا منظور شوي قرارداد کې راغلي وه چې داعش عراق کې ماتې خوړلې ده او له همدې کبله نور هلته د نړیوالو ځواکونو ټلوالې شتون ته اړتیا نشته او باید ووځي. قرارداد همدا راز له حکومت غوښتي چې د عراق پر خاوره د بهرنیو ځواکونو شتون ختم کړي او اجازه ورنه کړي چې د عراق خاوره، سمندري بریدونه او هوايي حریم وکاروي.

د دې ترڅنګ له حکومته غوښتنه شوې وه چې ملګرو ملتونو کې د امریکا پر ضد رسماً شکایت وکړي چې د عراق خپلواکۍ او امنیت نه یې جدي سرغړونه کړې ده.

د عراق لومړي وزیر عادل عبدل مهدي په دې تړاو پارلمان ته په خپله وینا کې وویل چې دې هېواد کې د بهرنیو ځواکونو شتون باید نور ختم شي. امریکا دا مهال په عراق کې شاوخوا پنځه زره پوځیان لري، چې ډېری یې پوځي سلاکاران دي.

د عراق په ګڼو ښارونو کې د ایراني جنرال قاسم سلیماني جنازې لپاره لارو کوڅو ته خلک راوتلي وو. د نوموړي مړی وروسته ایران ته ولېږدول شو.

د عراق حکومت دا مهال له یو حساس حالت سره مخ دی، ځکه هم له ایران او هم امریکا سره نژدې اړیکې لري او اتحادي یې دی. په دې هېواد کې مېشت زرګونه امریکایي پوځیان د داعش ډلې پر ضد د عراقي حکومت او پوځ ملاتړ کوي. خو حکومت فکر کوي چې په بغداد کې د ایران جنرال وژنه د عراق خپلواکۍ ته سپکاوی دی او له امریکا سره د شوي تړون نه هم سرغړونه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


بل لور ته په عراق کې ګڼ شمېر شيعه وسله والې ډلې فعالې دي چې د ايران لخوا يې ملاتړ کېږي او اوس داسې وېره ده چې ځينې دا ډلې ښايي د جنرال سليماني د وژنې غچ اخيستو هوډ ولري.

**امريکا:** د امريکا ولسمشر ډونلډ ټرمپ د قاسم سليماني د وژنې وروسته په لومړنيو څرګندونو کې وويل، چې هغه بايد ډېر مخکې وژل شوی وای.

ټرمپ ويلي، چې سليماني د زرګونو کسانو په قتل کې ککړ دی او په منځني ختيځ کې يې د جګړې اور ته لمن واهه.

د امريکا ولسمشر ډونلډ ټرمپ ويلي، ده د ايران القدس ځواکونو د ځواکمن قومندان جنرال قاسم سليماني د وژنې امر د جګړې مخنيوي لپاره ورکړی ځکه چې سليماني د امريکايانو د وژنې لپاره پلانونه جوړول.

ټرمپ په فلوريډا ايالت کې رسنيو سره د خبرو پر مهال وويل: سليماني د امريکايي ديپلوماتانو او عسکرو د وژنې پلان جوړ کړی و، خو موږ له وخت مخکې په نښه کړ او ځان مو ترې خلاص کړ.

هغه زياته کړې، چې موږ د جګړې اور زياتولو لپاره کار نه دی کړی، بلکې د جګړې د مخنيوي لپاره مو هڅه کړې او هېڅکله د ايراني نظام د بدلولو هڅه نه کوو.

ټرمپ ويلي، په عراق کې پر امريکايي هدفونو بريد او بغداد کې د امريکا پر سفارت د هجوم امر هم جنرال سليماني ورکړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library


نوموړي زياته کړه، چې ايران په ګاونډيو هېوادونو کې د نيابتي جنګياليو په مرسته د ګډوډۍ او ناامنۍ تر شا لاس لري.

ټرمپ په ټينګار سره ويلي، د امريکا متحده ايالات د ايراني نظام د بدلون هڅه نه کوي او زياته کړې يې ده، چې زه د ايران ولس ته ډېر درناوی لرم.

ټرمپ دا هم ويلي، چې که ايران پر امريکايانو يا د هغوی پر ملګرو د بريد کولو کوم پلان ولري د نورو سختو ګوزارونو سره به مخ شي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزير هم ويلي، چې يو ستر ترهګر ووژل شو او دهغه د وژنې په تړاو يې د ځينو هيوادونو له مشرانو سره خبرې هم کړي دي.

په امريکا کې جمهوريپال او ډيموکراټ ګوندونو د قاسم سليماني د وژلو هرکلی کړی دی، خو ځينو ډيموکراټانو وېره ښکنده کړې چې کېدای شي امريکا په يوه بله جګړه کې ښکېلوزي.

**ملګرې ملتونو :** په داسې حال کې چې د امريکا او ايران ترمنځ ترينګلتيا زياته شوه، د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونيو ګوترش د زغم غوښتنه وکړه. تر دې مخکې د نړۍ نورو مشرانو هم ورته غوښتنه کړې وه، په نيويارک کې د خبرو پر مهال د ملګرو ملتونو عمومي منشي اوسنی وضعيت خطرناک وباله، هغه زياته کړه: "زما پيغام ساده او روښانه دی، د ترينګلتيا زياتول ودروئ، له زيات زغم کار واخلئ، ډيالوګ بېرته شروع کړئ او نړيوالې همکارۍ له سره پيل کړئ. نوموړي زياته کړه، عادي وګړي د کړکېچ درنه بيه پرې کوي.

## افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library


په کابل کې بيا د قاسم سليماني وژنې ته بېلابېل غبرګونونه وښودل شول .

**ا رګ:** له ا رګ څخه په خپره شوې خبرپاڼه کې بيا ويل شوي وه، چې ولسمشر اشرف غني ويلي، ايران زموږ ګاونډی دی او دهغه پر ضد به د افغانستان خاوره ونه کارول شي.

افغان ولسمشر محمد اشرف غني 5جنوري 2020 نېټه له خپل ايراني سيال حسن روحاني سره تيليفوني خبرې وکړې او په بغداد کې د رامنځته شوې پېښې له کبله يې ډاډګيرنه ورکړه او غمشريکي يې ورسره څرګنده کړې وه.

هغه اعلاميه چې پدې تړاو د ارګ لخوا خپره شوې وه:

د افغانستان د اسلامي جمهوريت جمهور رئيس محمداشرف غني د ټليفون پر ليکه د ايران د اسلامي جمهوريت جمهور رئيس حسن روحاني سره خبرې وکړې او هغه ته يې ډاډ ورکړ چې د افغانستان او امريکا متحده ايالتونو ترمنځ د امنيتي موافقتنامې په اساس د افغانستان خاوره هيڅ کله د بل هيواد پر خلاف نه استعمالېږي .

**د ولسمشر دوهم معاون سرور دانش:** د افغانستان د ولسمشر دويم مرستيال د ايران د سپاه قدس قومندان، له داعش سره په مبارزه کې مهم شخص ګڼلی وه. هغه ويلي، چې په سيمه کې ترينګلي سياسي وضعيت ته په کتو هيله لري، چې د قاسم سليماني وژنه د افغانستان د سولې بهير ته په زيان تمامه نشي.

**کرزی:** د افغان حکومت پخواني ولسمشر «حامد کرزي» د سپاه پاسداران د قدس ډلې د مشر «قاسم سليماني» په وژنه تند غبرګون وښود او د نوموړي وژل کېدل يې د نړيوالو اصولو خلاف وباله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د کرزي له مطبوعاتي دفتر څخه په خپره شوې خبرپاڼه کې، پر قاسم سليماني بريد په ټينګو ټکو غندل شوی وه، د نوموړي کورنۍ او د ايران دولت ته تسليت ويل شوی وه او زياته شوې وه، چې د سليماني وژنه به په سيمه کې تشدد زيات کړي او د منطقې سوله او ثبات به زيانمن کړي.

کرزي، سليماني يو با وقاره شخصيت ياد کړی وه، نوموړي ته يې دعا غوښتې وه او هغه يې د يو باثباته او سوله ييز افغانستان مينوال ياد کړی.

د کرزي په خبره  ايران په افغانستان کې د امريکا له حضور سره، سره له افغانستان سره هر وخت نېکې اړيکې غوښتې.

**اجرائيه رئيس عبدالله عبدالله:** اجرائيه رئيس عبدالله وويل، چې د ايران سره نژدې اړيکې او کلتوري مشترکات لرو، خو امريکا مو هم ستراتيژيک ملګری دی.

**عطامحمد نور:** د جمعيت ګوند غړي عطامحمد نور وويل: د سليماني وژنه د سيمې د هېوادونو لپاره د اندېښنې وړ ده.

**محمد محقق:** محمد محقق وويل: سليماني له ترهګرۍ، سخت دريځی، القاعده او داعش سره د ايران او اسلامي نهضت د مبارزې ستر غنميت و.

**رحمت الله نبيل:** د ولسمشر نوماند رحمت الله نبيل څرګنده کړه: د سليماني وژنه به په سيمه کې ستونزې ډېرې کړي او افغانستان بايد له دغو جنجالونو ځان ليرې وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**حنيف اتمر:** د ملي امنيت پخواني سلاکار حنيف اتمر د سليماني د وژنې په اړه تسليت وړاندې کړی وه.

## ايران

د ايران مذهبي مشر «ايت الله خامنه يي» په هېواد کې درې ورځې ملي ماتم اعلان کړ او ګواښ يې کړی، چې له امريکا به د قاسم سليماني غچ اخلي.

امريکا ته د ايراني چارواکو د ګواښونو پر دوام د سپاه پاسداران ځواک عمومي مشر حسين سلامي يو ځل بيا وويل چې د سليماني غچ به واخلي او ډېر هغه ځايونه به وسوځوي چې امريکا يې ملاتړ کوي سلامي دا څرګندونې د سليماني د جنازې په مراسمو کې د وينا پر مهال کړې دي. نوموړي دغه راز ويلي ،امريکا ددوي يو تر ټولو محبوب قومندان وژلی دی او دا به ډېره بده وي چې دوي يې غچ وانخلي. هغه دا ګواښ وروسته تر هغه کوي چې د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ويلي، که چيرته ايران د غچ اخيستلو هڅه وکړي نو دوي به يې ۲ مهم ځايونه په نښه کړي.

چې وروسته ايران دسليماني د مړي د تدفين څخه مخکې په عراق کې د امريکا پر دوو پوځي اډو بريدونه وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ايران د جنرال قاسم سليماني د غچ اخيستنې په موخه په عراق کې پرهغو دوو پوځي اډو توغندي وتوغول چې امريکايي عسکر پکې ميشت ول. خو پر دې بريدونو د ولسمشر دونالد ترمپ غبرگون ډېر تند نه وو.

د امريکا متحده ايالاتو د معلوماتو په حواله په عراق کې دوې هغه پوځي اډې چې امريکا ترې کار اخلي، هم د هغو بالستيک توغنديو هدف وگرځيدلي چې د ايران له خوا توغول شوي ول.

د امريکا متحده ايالاتو د دفاع وزارت يا پنتاگون له خوا وويل شول چې د هدف گرځول شويو اډو څخه يې يوه د عراق په مرکزي سيمه کې د «عين الاسد» په نوم د هوايي ځواک او دويمه د شمالي ښار اربيل پوځي اډه وه.

دې حملې څخه وروسته د امريکا متحده ايالاتو ولسمشر دونالد ترمپ د ملي امنيت له سلاکارانو سره تر بيړنۍ غونډې وروسته د تويټر له لارې وليکل چې «هر څه ښه دي.» او د وضعيت په اړه ارزونه روانه ده. هغه زياته کړه: «موږ پياوړی پوځ لرو چې په ټوله نړۍ کې په ښه شان سره سمبال دی.» هغه وويل چې د بريد په اړه به وروسته د ورځې په اوږدو کې يوه اعلاميه خپره کړي او ملت ته به وينا وکړي.

چې وروسته ټرمپ د امريکا ملت ته په وينا کې وويل:

دونالد ترمپ د امريکايانو پر ادرس په خپله وينا کې له سلام ويلو څخه ترمخه وويل چې تر کوم وخت پورې چې دی ولسمشر دی، دی به اجازه ورنکړي چې ايران د اتومي وسلو څښتن

(c) ketabton.com: The Digital Library


شي. نوموړي د هغه وروسته «سهار پخير» وويل او د امريکا ولس ته يې مبارکي ورکړه چې د ايران په بريد کې هېڅ امريکايي ژوند نه دی ضايع شوی.

د امريکا د متحده ايالاتو ولسمشر دغه وينا په عراق کې د امريکايي مقرونو پر ضد د ايران د بريدونو وروسته لومړۍ ژوندۍ وينا وه. ترمپ په دغه وينا کې کوښښ وکړ چې روښانه کړي چې امريکا ولې قاسم سليماني په عراق کې په نښه کړ. ترمپ وويل چې د سليماني لاسونه هم په امريکايي او هم د نورو انسانانو په وينو کې ډوب ول. ترمپ وويل چې سليماني يوه بلا وه او دا چې بايد ډېره پخوا لا خاموشه کړل شوې وای.

ترمپ وويل چې د سليماني پر ضد يې ځکه د اقدام امر وکړ چې سليماني د امريکايانو د نښه کولو له پاره نوي پلانونه جوړول. خو دا چې دا څه ډول پلانونه ول او په هکله يې د امريکا متحده ايالات کوم شواهد لري، ترمپ يې تفصيلات ورنکړل.

ترمپ زياته کړه چې داسې بريښي چې ايران د غبرګون ښودلو په ترڅ کې محتاط دی.

ترمپ اعلان وکړ چې د امريکا متحده ايالات به پر ايران نوي بنديزونه ولګوي او تر هغه وخت پورې به يې برقرار تر څو چې ايران خپل چلند نه وي بدل کړی. د ترمپ په وينا د هر هغه چا سره خبرو اترو ته چمتو دی چې سوله غواړي. نوموړي وويل چې د ايران پر ضد دمګړۍ نظامي اقدامات نه دي پلان شوي. د ترمپ په وينا متحده ايالات د نړۍ يو بهترين تجهيزات لرونکی پوځ لري خو ددې معنی دا نه ده چې موږ يې خامخا کاروو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د متحده ایالتو ولسمشر وویل: متمدنه نړۍ باید ایران ته ښکاره سګنال ولېږدوي چې نور به د ایران ترهګر کامپاین ونه زغمي. د ترمپ په وینا همدا نن به له ناټو څخه وغواړي چې د منځني ختیځ په پروسه کې لا زیات ښکېل شي.

د فارس خبري آژآنس په حواله د ایران ولسمشر حسن روحاني تر بریدونو وروسته د چهار شنبې په ورځ وویل چې واشنګتن به ښایي د جنرال سلیماني «لاس قطع» کړی وي خو په ځواب کې به یې په سیمه کې د امریکا «پښه» قطع کړای شي. د ایران دولتي تلویزیون ویلي چې په برید کې ۸۰ «امریکایي ترهګر» وژل شوي او همدا راز یې د امریکا پوځ تجهیزات او څرخي الوتکې ویجاړې کړي دي.

زیاته شوې ده چې د ایران پوځ په ټوله کې پر امریکایي هدفونو ۱۵ راکټونه فایر کړي دي او هېڅ یو یې هم د دافع هوا سیستم له خوا نه دی نیول شوی.

خو ایران سپاه پاسداران ځواک د ټرمپ برعکس وویل چې د «عین الاسد» اډه یې په «بشپړه توګه ورانه» کړې ده. او ویې ویل چې د مریکایانو تر استعمال لاندې پر دغه اډه یې د ځمکې څخه ځمکه ویشتونکي بالستیک توغندیو برید له هره نظره یوه کامیابي وه. د سپاه پاسداران یوه قوماندان وویل چې دا بریدونه یوازې لومړی ګام وو. دغه قوماندان د هغه په خبره لوی شیطان ته د دغه ځواک د نورو سترو بریدونو ګواښ وکړ.

د سپاه پاسداران ځواک له خوا په خپره شوې اعلامیه کې زیاته شوې وه چې د امریکا هر ډول غبرګون ته به سخت ځواب ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف دا برید د خپل دفاع له پاره یو مناسب او مشروع عمل وباله. نوموړي په عین حال کې د تویتر له لارې ټینګار وکړ: موږ د شخړې پراخولو او جګړه ته لیواله نه یوو، خو موږ به د هر تیري په مقابل کې خپله دفاع وکړو.

## قدس ځواکونه څوک دي او څه کوي

سپاه قدس په ۱۹۸۷ کې د خمیني له خوا د اسرائیلو څخه د قدس د ژغورولو د عراق او ایران د جګړې له لومړیو له ایران بهر عراق او لبنان کې د عملیاتو لپاره جوړ شو او وروسته د سپاه په یوه مهمه برخه بدل شول، چې اوس ان د سپاه قدس په نوم هم یادېږي. د وخت په تېرېدو سره دا ډله د شعیزم د خدمت لپاره شوله. سنیان په دنیا کې ځیني لیرې شول.

د دې ډلې مرکز په تهران کې د امریکا د سفارت هغه تعمیر دی چې په ۱۹۷۹ کې ایراني محصلینو نیولی وو او ۴۴۴ ورځې یې هلته امریکایي کارکونکي اغوا کړي ول. د سپاه قدس د غړیو شمېر مالوم نه دی خو یوه برخه یې د مستقیم جنګ لپاره، یوه برخه یې د خاصو سؤ قصدونو لپاره او یوه برخه یې د استخباراتو د را ټولولو لپاره په تهران او شیراز کې روزل کیږي. تر زدکړو وروسته د سپاه قدس غړي د دیني زدکړو لپاره د قُم ښار ته لېږل کیږي.

ډېر نړیوال سیاسي او پوځي پوهان باوري دي چې قدس ځواکونه سیمه کې د بدر ملېشو په ګډون عراق کې حشد الشعبي، د لبنان د حزب الله پوځي څانګې، غزه کې اسلامي جهاد یا حماس او یمن کې د حوثیانو نبغ پوځي ملاتړ کوي او روزي یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**قُدس د ایران ټولې متحدې نیابتي ډلې کنټرولوي:** ایت الله خامنه ایي د قاسم سلیماني تر وژل کېدو وروسته بې له کوم ځنډه، اسماعیل قاآني د هغه ځای ناستی د سپاه پاسداران د قدس ځواکونو قومندان کړ.

د نوي قومندان د دې چټکې ټاکنې پیغام دا دی چې د قدس په ډله کې به څه بدل نه شي.

د جنرال قاآني د مقررۍ د حکم په متن کې همدې مسلې ته اشاره شوې: "د دغو ځواکونو تګلاره د شهید سلیماني د قومندانۍ د دورې همغه تګلاره ده".

لکه څنګه چې ایت الله خامنه اي ویلي د قدس ځواکونو تګلاره دې نه بدلیږي نو د دې ځواک کړنې به په راتلونکې کې تر بل هر څه ډېر د قومندانانو په تېره بیا د عمومي قومندان اسماعیل قاآني په سوابقو، ځانګړنو او وړتیاو استواره پاتې وي.

د ایران د وسله وال پوځ په جوړښت کې د قدس ځواکونو ځای: قدس د سپاه پاسداران له څلورو اصلي ځواکونو یو دی.

د سپاه پاتې درې نور ځواکونه په ترتیب دا دي: "ځمکني یا پیاده چې مشري یې محمد پاکپور کوي، هوا-فضا ځواکونه چې قومنداني یې امیرعلي حاجي زاده په غاړه لري او سمندري ځواکونه چې قومنداني یې علیرضا تنګسیري مخته وړي".

د دغو ځواکونو تر څنګ په سپاه پاسداران کې د غلام رضا سلیماني په مشرۍ د بسیج سازمان، د حسین طائب په مشرۍ د اطلاعاتو سازمان، د فتح الله جمیري په مشرۍ د "ساتنې" سازمان او د محمد کاظمي په مشرۍ د اطلاعاتو د ساتنې سازمان فعاله دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


جمعاً سپاه پاسداران له اتو ډلو جوړه شوې چې د سپاه د عمومي قومندان حسين سلامي او د هغه د ځای ناستي علي فدوي تر نظر لاندې فعاليت کوي.

په سپاه پاسداران کې د ولايت فقيه استازی هم عبدالله حاجي صادقي نوميږي چې د سپاه د قومندان په څېر عمل کوي په دې معنی چې د سپاه تر قوماندې لاندې نه دی بلکې اوږه په اوږه ورسره روان دی.

**د قدس ځواکونو ماموريت:** له پولو هاخوا سپاه: د قدس ځواکونه چې په سپاه قدس مشهوره دي د سپاه پاسداران بهرنۍ څانګه ده چې د ايران له پولو بهر فعاليت کوي. د سپاه په جوړښت کې د داسې يوې څانګې موجوديت پخوا نه اعلانېده خو کله چې په ۲۰۱۱ کال کې د سوريې جګړه پيل شوه او د قاسم سليماني په مشرۍ د قدس ځواکونو د بشار الاسد د رژيم په ملاتړ پکې پراخه ونډه واخيسته د قدس ځواکونو او د هغوی د قومندان نوم زيات رسنيز شو.

تېر وختونه د قدس ځواکونو د ماموريت ساحې لبنان او بوسنيا او هرزګوينه وې.

## اوس وخت کې د دې ډلې ماموريتونه

**لبنان:** د حزب الله ډلې په ملاتړ سره غواړي په دولتي او امنيتي جوړښتونو زيات نفوذ ولري.

**سوريه:** د بشار الاسد له بقا ملاتړ چې يوه لاره يې د حکومت د ملاتړيو ملېشو رامنځته کول دي.

**عراق:** د حشد الشعبي ډلې تاسيس او ايران ته د نږدې دولتونو د رامنځته کولو هڅه او د عراق له کردستان سره د اړيکو کنټرول او مديريت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**یمن:** په صنعا کې د سعودي عربستان د فشارونو په وړاندې د حوثیانو د حکومت له بقا ملاتړ.

**افغانستان:** ایران ته د نږدې سیاسي یا وسله والو دودیز ملاتړ څو په مټ یې په دولت کې زیات نفوذ ولري.

**او د غزې تړانګه:** د اسراییل پر وړاندې د حماس او اسلامي جهاد د ډلو په څېر له بیلابیلو ګروپونو هر اړخیز ملاتړ.

اکثر دا ډلې او مشران یې د امریکا متحده ایالتونو د ترهګریزو سازمانونو په نوملړ کې شامل دي.په یادو شویو هېوادونو د قدس ځواکونو په خاص تمرکز سربېره دا ډله په ټول منځني ختیځ کې فعاله ده او وخت ناوخته یې د فارس خلیج په عرب څنډو هېوادونو کې غړي نیول کیږي. د قدس ځواکونو د فعالیتونو د نویو حوزو په توګه د افریقايي هېوادونو یادونه کولای شو چې ایران په دې وروستیو کلونو کې د خپلو هدفونو د تعقیب لپاره په دغو هېوادونو کې د زیات نفوذ د پیدا کولو هڅه کړې.

د ایران همدغه فعالیتونه د دې لامل شوي چې د امریکا د ترهګریزو سازمانونو په لیسټ کې په خپله د قدس ډله شامله شي.

**قدس ډله د سپاه او اطلاعاتو وزارت د کار د وېش محصول ده:** کوم فعالیتونه چې اوس یې قدس ډله مخته وړي، د دې ډلې تر تاسیس دمخه د ایران د وسله وال پوځ په نورو تشکیلاتو کې مخته وړل کېدل.

په دې برخه کې د لومړنیو فعالو بنسټونو له ډلې یو هم د ایت الله منتظري د زوی محمد منتظري په مشرۍ تشکیلات و چې له ۱۳۵۷ د هغه تر مرګه یعنې ۱۳۶۰ پورې یې دوام وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


محمد منتظري چې له هېواد بهر د شاه د حکومت په وړاندې د وسله وال فعاليت سابقه درلوده او له فلسطينيانو په تېره بيا د ياسر عرفات په مشرۍ د فتح له سازمان سره په اړيکه کې و دومره ځواکمن و چې د ۱۳۵۸ کال په پسرلي کې يې د معمر قذاقي د حکومت د دويم کس عبدالسلام جلود په رابللو د مهرآباد هوايي ډګر د خپلو ځواکونو په مټ وتاړه او د وخت د دولت مخالفت ته له پام پرته يې جلود د احمد خميني په ملاتړ د ايت الله خميني ليدو ته ور وست.په ور وروستو کلونو کې له هېواد بهر فعاليتونه د هغه وخت د ولسمشر علي خامنه يي تر څارنې لاندې راغلل.

هغه د محمود هاشمي شاهرودي څخه چې وروسته يې د قضايه قوې مشري هم ور وسپارله ملاتړ وکړ څو د اسلامي انقلاب د اعلی مجلس په نوم د صدام د مخالفه عراقيانو تشکيلات په ايران کې جوړ او په خپله شاهرودي يې وياندويي مخته يوسي.

د سپاه د ازادۍ بښونکي نهضت تشکيلات هم يو له هغو بنسټونو و چې له هېواد بهر يې په شپيتو کلونو کې د ايران لپاره فعاليتونه کول. د دغو تشکيلاتو مشري مهدي هاشمي کوله چې د سپاه د قوماندې د شورا غړی و.

هاشمي وروسته د رفسنجاني او خامنه اي له ټيم سره سيالي وکړه چې بلآخره د وخت د اطلاعاتو د وزير محمد ري‌شهري په لاس بندي، محاکمه او په ۱۳۶۶ کال کې اعدام شو.

د ايران او عراق د جګړې پر مهال هم د سپاه د هغه وخت قومندان محسن رضايي کرار کرار هڅه وکړه چې د ايران له ملاتړ برخمن بهرنۍ ډلې تر خپل پوښښ لاندې راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا له هېواد بهر د ایران د ټولو پوځي - امنیتي فعالیتونو د کنټرول لپاره د سپاه له لومړنیو جدي ګامونو بلل کیږي چې البته په نظام دننه ورسره د اطلاعاتوي نوي تاسیس شوي وزارت بنګري کوله.

د اطلاعاتو وزارت بهرنۍ چارې هغه وخت اصغر میر حجازي مخته وړلې چې اوس د ایت الله خامنه اي سیاسي او امنیتي سلاکار دی.

د سپاه قومندان محسن رضایي همداراز د بدر د نهمې لوا تشکیلات رامنځته کړل چې پکې د صدام ایران میشتي مخالفان او ځینې عراقي بندیان شامل و.

محسن رضایي له هماغو لومړیو هڅه وکړه چې د بدر نهمې تشکیلات د عراق د اسلامي اعلی مجلس او د محمد باقر حکیم د تشکیلاتو تر چتر لاندې رانشي.

حکیم چې د یاد مجلس رئیس هم و څو واره د محسن رضایي له لاسه هاشمي رفسنجاني او علي خامنه اي ته شکایت کړی و خو رضایي خپل کار کاوه.

په هغو وختونو کې د هغو کسانو له ډلې چې په بدر نهمې ډلې کې یې فعالیت کاوه یو ابومهدي مهندس او بل هادي عامري و. مهندس د ۲۰۲۰ میلادي کال د جنورۍ په دریمه له قاسم سلیماني سره یوځای د بغداد په نړیوال هوایي ډګر کې د امریکا په هوایي برید کې ووژل شو.

ابومهدي مهندس د ۱۹۸۰ میلادي په لومړیو کې له عراقه کویټ ته وتښتېد، او له عماد مغنیه سره تر همکارۍ او په کویټ کې پر امریکایي - اروپایي هدفونو له بمي بریدونو وروسته ایران ته ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ابومهدي وروسته د بدر نهمې ډلې قومندان شو چې د سپاه پاسداران په رسمي تشکيلاتو کې هم راغی. د بدر په ډله کې هغه وخت هادي عمري هم فعاله و. بدر د عراق د اوسنی حشد الشعبي له مهمو جوړوونکو ډلو يوه ده.

ابومهدي مهندس او هادي عمري ۶۵ کاله د حسن دانايي فر تر قوماندې لاندې خدمت وکړ هغه کس چې د صدام تر سقوط وروسته د ۱۳۸۵ او ۱۳۸۹ کلونو تر منځ په عراق کې د ايران سفير و. ابومهدي او هادي دواړه هغه وخت د عراق د دولت له لوړپوړو پوځي - امنيتي چارواکو وو.

د سپاه د فعاليتونو بله څانګه د رمضان د اډې په چوکاټ کې مخته تلل چې د عراقي کردانو د پيشمرګه ځواکونو له هغې جملې د مسعود بارزاني او جلال طالباني ډلو سره د ايران د اړيکو مسوول و.

د رمضان اډې يو لوړپوړی قومندان او درستيزوال ايرج مسجدي و چې اوس جنرالی ته رسيدلی او په عراق کې د ايران سفير دی. محمد رضا نقدي هم د رمضان اډې يو بل قومندان و چې وروسته د بسيج قومندانی ته ورسېد. په ۱۳۶۰ لسيزه کې د سپاه د فعاليتونو يوه مهمه څانګه په لبنان او د اسراييل پولو ته نږدې وه.

دا تشکيلات چې په خپله سپاه کې د لبنان د سپاه په نوم معروفه ول او مشري يې د حسين دهقان په غاړه وه د لبنان د حزب الله د تشکيلاتو د رامنځته کېدو لامل شول. حسين دهقان بريد جنرالی ته ورسېد او يوه دوره يې د روحاني په ولسمشری کې دفاع وزارت هم وکړ. د دهقان تر نظر لاندې هغه وخت د حزب الله اوسنی رهبر حسن نصرالله او د حزب الله د

(c) ketabton.com: The Digital Library


پوځي امنيتي برخې مسوول عماد مغنيه ورزول شول. تر دهقان وروسته دوه کسان د حزب الله په لارښوونه او اړيکو کې اغېزمن تمام شول.

د وخت د سپاه د اطلاعاتو مسوول او د قدس ډلې لومړنی قومندان احمد وحيدي او فريدون وردي نژاد چې هغه وخت په مهدي نژاده مشهوره و او دواړو ته په ۱۳۶۴ کال کې د هاشمي رفسنجاني له خوا ايران ته د رونالډ ريګن د دولت د لېږل شوي استازي مک فارلين سره د مذاکرې مسووليت ورکړل شوی و.

دوی دواړه هم وروسته جنرالان شول. احمد وحيدي دفاع وزارت ته ورسېد او اوس د ملي دفاع د پوهنتون رييس دی او وردي نژاد هم د اسلامي جمهوري د خبري اژانس مدير شو چې په پاستور واټ کې د روحاني په دفتر کې د رسنيو خاص مشاوريت مخته وړي.

د ايران او عراق تر جګړې او د ايت الله خميني تر مړينې وروسته، علي خامنه اي او هاشمي رفسنجاني د ايران د لوړپوړو چارواکو په توګه پرېکړه وکړه چې د سپاه او اطلاعاتو وزارت کارونه په يو ډول وويشي.

له هېواده بهر د ايران د سياسي مخالفانو په وړاندې فعاليت له هغې ډلې د هغوي د رهبرانو ترور په عمل کې عمدتاً اطلاعاتو وزارت ته وسپارل شو او سپاه ته هم د ايران د غير ايراني متحدو ډلو بشپړ کنټرول او مديريت ور له غاړې شو.

ټول فرعي او بيلابيل تشکيلات له يو بل سره ګډ شول او د سپاه پاسداران قدس ډله رامنځته شوه خو تر څو کلونو د عامو خلکو تر منځ د دې ډلې نوم نه اخيستل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د قاسم سلیماني د قدس ځواک:** د قدس ډلې اصلي او لویه غښتلتیا او پراختیا په ۱۳۷۶ کال کې د قاسم سلیماني په مشرۍ پیل شوه. دی چې په سپاه کې د ایت الله خامنه اي له محبوبو قومندانانو یو و په چټکۍ د قدس ځواکونو سازماني تشکیلات او فعالیتونه پراخ کړل.

قدس ډله چې اساساً باید د سپاه د عمومي قومندان او د هغه د ځای ناستي تر نظر لاندې وي، د قاسم سلیماني په قومندانۍ کې د دې لپاره چې هغه له ایت الله خامنه اي سره خاصه اړیکه درلوده یو ډول خپلواکي ترلاسه کړې وه.

قاسم سلیماني هم خپلې تګلارې او پرېکړې تر ډېره له ایت الله خامنه اي سره همغږې کولې او د سپاه عمومي قومندان یا د هغه له ځای ناستي سره ډېر نه کیناست.

د سپاه عمومي قومندان او د هغه ځای ناستي هم د رهبري په وړاندې د سلیماني خاص ځای او مقام او د ایت الله خامنه اي پوره اعتماد ته په کتو د قدس ډلې لپاره یوائې لوجستیکي او حمایوي چارې مخته وړې او له دې پرته چې د سلیماني پرېکړې تایید کړي بله چاره یې نه درلوده. په قدس ځواکونو کې د تصمیم نیونې خاص سیستم: یو هېواد، یوه قضیه، یو قومندان که څه هم قدس ځواکونه تر ډېره د قاسم سلیماني په قومندانۍ پیژندل کېدل خو هغه په دې ډله کې د تصمیم نیونې یو خاص سیستم رامنځته کړی و.

داسې سیستم چې د ژوند تر پایه د هغه شخصي او پر رنګه رول د قدس ډلې په قومندانۍ او لارښوونه کې نه معلومېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په ایران کې د نورو ټولو ځواکونو او وسله والو یا غیر مسلح سازمانونو په خلاف چې معمولاً پکې مرستیالان ګمارل کېږي او تر هغه ښکتنیو کچه کې هم ټیټ پوړي قومندانان وي په قدس ډله کې د پرېکړې نیولو سیستم د یوه هېواد، یوې قضیې او یوه قومندان پر بنسټ و.
د دغه سیستم له مخې په هر هغه هېواد کې چې د قدس ډلې ځواکونه فعاله و د اداري او پرېکړې مسوولیت یوه خاص قومندان ته سپارل کېده او د ایران د اسلامي جمهوریت له لوري عام او تام صلاحیت ورکول کېده. دا قومندانان د ایران د هدفونو د تحقق لپاره د کم کاریو ځوابګویه هم شمېرل کېږي.
په دغه سیستم کې دا تشکیلات په عراق، لبنان، سوریه، افغانستان، یمن او غزه... کې د قدس ځواکونو د لوجستیکي او حمایوي چارو مسوولیت په غاړه لري.
د دغه سیستم په سر کې د قدس ځواکونو د قوماندې شورا موجوده ده چې تېر کال یې د موجودیت خبره علني شوه هغه هم داسې وخت چې قاسم سلیماني د عراق د بیا رغونې د ډلو مخکینی مسوول حسن پلارک د دې شورا د غړي په توګه معرفي کړ. د قدس د قوماندې شورا د نورو غړیو نومونه نه دي اعلان شوي.
دا شورا په عمل کې د قدس ځواکونو د قومندانۍ لپاره د مشورې رول ادا کوي او د قدس ځواکونو نوی قومندان اسماعیل قاآني هم د سلیماني په څېر له ټولو واکونو برخمن دی.

## د قدس ډلې د نوې قوماندې اصلي هسته

(c) ketabton.com: The Digital Library





په پورتني عکس کې له ښۍ خوا لومړی اسماعیل قاآنی دی چې د قدس ډلې نوی قومندان ټاکل شوی.

دویم جنرال ایرج مسجدي دی چې په عراق کې د ایران سفارت هم مخته وړي او د عراق د دوسیې واک ورسره دی.

دریم جنرال احمد صبوري دی چې د قدس د قومندان د ځای ناستي پُستټ ته د احتمالي کاندیدانو له ډلې دی او هم د همغږۍ د چارو مرستیالي مخته وړي.

په اول قطار کې څلورم عکس د علي شیرازي دی چې په قدس ډله کې د ولایت فقیه استازیتوب کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دويم قطار کې لومړی عکس د حسن دانايي فر دی چې پخوا د ۱۳۸۹-۱۳۹۵ کلونو تر منځ په عراق کې د ايران سفير و. ورپسې حسن کاظمي دی چې دی هم د ۱۳۸۵-۱۳۸۹ کلونو منځ په عراق کې د ايران سفير و.

د دويم قطار دريم عکس د محمد جلال مآب دی چې د عتبات عاليات يا په عراق کې د شيعه امامانو د زيارتونو د بيارغونې مسووليت ور له غاړې دی. او د دويم قطار وروستی عکس د حسن پلارک دی چې د قومندان خاص دستيار او د قدس ځواکونو د قوماندې د شورا غړی دی.

**د قدس ډلې په وړاندې ننګونې څه دي:** د قدس ډلې په وړاندې تر ټولو لويه ننګونه د قاسم سليماني د ځای ډکول دي.

د ايران د پلويانو او مخالفينو په ذهن کې د قدس ډلې د هويت يوه مهمه برخه د قاسم سليماني پوروړې ده او امتياز يې هغه ته ورځي.له سليماني پرته سخته ده چې د قدس ډله د سپاه په لويو پريکړو کې خپل نفوذ او دريځ خوندي کړي.

اسماعيل قاآني تر اوسه د ايت الله خامنه اي په وړاندې له شخصي او کاري اعتباره برخمن نه دی او له رهبر سره د خاصې اړيکې ټينګښت احتمالاً وخت غواړي.

له بلې خوا سره له دې چې قاآني په تېرو دولسو کلونو کې په سيمه کې د ايران د نيابتي ډلو له مشرانو او قومندانانو سره اړيکې درلودې خو له هغوی سره د قاسم سليماني په څېر د اړيکو په جوړولو وخت لګيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دی به په ډېر احتمال په نږدې راتلونکي کې هڅه وکړي چې هېوادونو ته په سفر سره د نیابتي ډلو د مشرانو او قومندانانو د قوي اړیکو او ملاتړ د جلب هڅه وکړي او ځان به د قاسم سلیماني په څېر د میدان یو فعاله قومندان وښیي نه د یوه دفتر ناستي رییس په توګه.

په دې وخت کې ممکن د ایران د نیابتي ډلو مشران او قومندانان له بېلابېلو ځایونو په قدس ډله کې د خپل نوي قومندان د لیدلو لپاره ایران ته پټ او علني سفرونه وکړي هغه څه چې د قاسم سلیماني په دوره کې زیات مروج و.

د قاآني او قدس ډلې لپاره اوس تر ټولو لویه ننګونه د دې خبرې ثابتول دي چې قدس ډله له قاسم سلیماني پرته د راکټي توان تر څنګ په منځني ختیځ کې د ایران پوځي - امنیتي او ان ډيپلوماټیک مهم رکن پاتې کیدای شي که څنګه څو لا هم د منځني ختیځ په اړه د ایران په سیاستونو خپل سیوری وغوړوي.

د دغو ننګونو د ماتولو لپاره د قدس ډلې او د دې ډلې د نوي قومندان سترګې یواځې او یواځې د ایران د اسلامي جمهوریت د رهبر ایت الله علي خامنه اي د باور او خاص ملاتړ جلبولو ته پاتې دي. خو د خامنه اي د خاص ملاتړ په دوام سره سره هم د دې ډلې په وړاندې تر ټولو لویه ستونزه ګڼل کېږي چې امریکا یې پر ضد فعاله شوې. قومندانان او د نیابتي ډلو مشران یې ور وژني. دا داسې یوه ستونزه ده چې د قدس ډلې د قوماندې شبکې او نورو نیابتي ډلو ته کلکه ضربه ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**د سپاه پاسدا رانو لخوا دا وکراینی الوتکې راغورځول:** د اوکراین هوايي شرکت دغه ۸۰۰-۷۳۷ ډوله بوينګ الوتکه د جنوری په اتمه نېټه له تهرانه اوکراين ته روانه وه او د امام خميني له هوايي ډګر څخه تر الوتو وروسته سمدستي راولوېده.

په الوتکه کې د ايران، افغانستان، اوکراين، جرمني، سوېډن او بريتانيا وګړي سپاره و چې ټول ووژل شو. که څه هم ځينو غربي کارپوهانو لا له وړاندې د دغې الوتکې د ويشتل کېدو خبره کړې وه، خو په تېرو ورځو کې ايراني چارواکو دا ادعا ردوله.

د ايران وسله والو ځواکونو وروسته په يوې اعلاميې کې وويل چې د اوکراين هوايي شرکت الوتکه په غيرقصدي ډول او د انساني تېروتنې په نتيجه کې د سپاه پاسداران انقلاب ځواکونو راغورځولې ده.

په اعلاميه کې ويل شوي چې دا الوتکه وروسته له هغې په تېروتنې "دښمن هدف" وګڼل شو چې د سپاه پاسداران انقلاب ځواک حساس پوځي مرکز په لور ورتاوه شوه. دا پېښه څو ساعته وروسته له هغه وشوه چې د ايران پوځ په عراق کې، د امريکايي ځواکونو پر پوځي اډه د بالستيک توغنديو حمله وکړه. د ايران حکومت ويلي، ددې تراژيدی مسئول کسان به سمدستي عدالت ته راښکل شي.

وروسته له دې پېښې د ايران حکومت لوړ پوړو چارواکو داسې غبرګونونه وښودل: ښاغلي حاجي زاده په خپله وينا کې چې د ايران پر دولتي ټلويزيون خپرېده دغه خبره کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د ایران مذهبي رهبر ایت علي خامنه یي هم په الوتکه کې د ۱۷۶ قربانیانو له کورنیو سره ژوره غمرازي څرګنده کړې او په یو بیان کې ددې هیواد له وسلوالو ځواکونو یې غوښتي څو هغه ممکنې نیمګړتیاوې او جرم وځېړي چې ددې دردناکې پېښې سبب شوي دي.

د ایران ولسمشر حسن روحاني هم د اوکراینی الوتکې ویشتل لویه تراژیدي او نه بخښونکې تیروتنه وبلله. نوموړې په خپل ټویټر لیکلي: د داخلي څېړنو پایله دا ده چې ویشتل شوی توغندی د انساني تېروتنې له مخې ددې ا وکرایني الوتکې د غورځېدو سبب شوې.

د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف ویلي؛ پېښه د امریکا متحده ایالتونو د "ماجراجویی" له کبله د رامنځته شوي کړکیچ پر مهال شوې ده. ښاغلي ظریف پر خپل ټویټر لیکلي: د وسلوالو ځواکونو د داخلي څېړنو لومړنی پایلې ښیي چې د امریکا د ماجراجویی له کبله د راپورته شوي بحران پر مهال، بشري تېروتنه ددې ناورین سبب شوې ده.

هغه زیاته کړې چې موږ خپلو خلکو، د ټولو قربانیانو کورنیو او په پېښه کې نورو متاثره شویو هېوادونو ته خپله ژوره خواشیني څرګندوو، بخښنه غواړو او تسلیت وړاندې کوو.

**د ا وکرایني الوتکې د ویشتلو پر وړاندې د ا وکراین حکومت غبرګون:** د ا وکراین ولسمشر ولادیمیر زېلینسکي ویلي، کیف تمه لري چې په تهران کې د حکومتي ځواکونو له خوا په توغندي د راغورځول شوې اوکراینی الوتکې په اړه ایران بشپړه څېړنه وکړي، پړه ومني او زیانمنو ته تاوان ورکړي.

د اوکراین د ولسمشر په رسمي ویب پاڼه خپره شوې اعلامیه کې راغلي: موږ له ایران تمه لرو چې په دې اړه بشپړې او پرانیستې څېړنې، مسئولو کسانو سره د عدلي چلند، د وژل شویو د

(c) ketabton.com: The Digital Library


جسدونو د سپارلو، د تاوان ورکولو، او د ډيپلوماتيکو چينلونو له لارې د رسمي بخښنې لپاره د خپل چمتوالي ډاډ راکړي.

## د سليماني وژنه، د ايران انتقام او سيمه د يو بل بحران په لور

د امريکا د متحده ايالاتو له خوا د قاسم سليماني وژنه يو جنګي عمل دی چې عواقب يې ناڅرګند دي. ايران د امريکا په وړاندې دغوچ ځواب خبر داری ورکړ او دجنرال سليماني له جنازې او تدفين وروسته د شپې په مهال په ګاونډې هېواد عراق کې د امريکايي پوځ دوه مهمې اډې په لسګونو بالاستيکي توغندي وويشتل چې د ايراني رسنيو له قوله پکې اتيا امريکايي عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته.

سليماني د ايران او په سيمه کې دايران پلوه خوځښتونو لپاره ډومره مهم و په دې کې شک نه شته چې جنرال سليماني د ايران د مذهبي ريژيم لپاره يو مهم پوځي قومندان و او د ايران ښخه د باندې يې د ايراني حکومت د ګټو د ساتلو لپاره د پټو عملياتو مشري کوله خو په سوريه کې دجګړو ښخه وروسته مخامخ ميدان ته راووت او د ولسمشر بشارالاسد د حکومت د ژغورلو لپاره يې د حکومت سُني وسلوال مخالفين وټکول او د اسد ريژيم چې وروستۍ سلګۍ يې وې د همدې جنرال په هڅو وژغورل شو.

په عراق، لبنان او يمن کې يې د شيعه حرکتونو د ملاتړ په پار مستقيمه مداخله کوله عراقي چارواکو دسليماني له وژل کيدو وروسته په ښکاره وويل چې همدا سليماني و چې ددوی حکومت يې وساته .

(c) ketabton.com: The Digital Library


جنرال سليماني د اسرائلي اشغالګرو په خلاف د فلسطيني آزادي غوښتونکو خوځښتونو حماس او اسلامي جهاد نظامي تمويل هم کاوه چې د جنازې په مراسمو کې يې د حماس د اسلامي تحريک سياسي مشر "اسماعيل هنيه" برخه واخيسته او هغه ته يې د قدس دشهيد لقب ورکړ.

**ایران مجبور دی غبرګون وښيي:** د سليماني وژنه د جګړې معنی نه ورکوي او نه به يې له کبله جګړه رامنځ ته شي. خو زما په اند چې البته جګړه روانه ده. زما په اند که ايران د سليماني د وژنې وروسته د غچ په اخيستلو غبرګون ونه ښيي نو هم به په کور دننه کې او هم به په نړيواله توګه ځان شرمولی احساس کړي.
اسلامي جمهوريت د دغه هيواد په کور کې دننه د پياوړتيا خپل تعارف کړی او دښمنان يې کمزوري معرفي کړي دي. که اوس اقدام ونه کړي نو به يې دغه دريځ زيانمن شي. که چيرې تهران د سليماني د وژنې په وړاندې غبرګون ونه ښيي نو ښايي د امريکا متحده ايالات او اسرائيل د ايران د لېوالتيا پر ضد خپل اقدامات دوه چنده زيات کړي. له دې کبله ايران د يو ډېر سخت انتخاب سره مخامخ دی.

**د امريکا د حداکثر فشار پاليسي:** د ايران او د امريکا د متحده ايالاتو تر منځ اړيکې لا کړکېچني شوي کله چې متحده ايالاتو په ۲۰۱۸ کال له هغه تړون څخه ووتل کوم چې د ايران د اتومي پروګرام په حواله د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا د دايمي غړو، اروپايي اتحادیې او ايران تر منځ شوی ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په دې ترڅ کې متحده ایالاتو د ایران پر ضد نوي بندیزونه ولګول او د حد اکثر فشار پالیسي یې په داسې حال کې پر مخ بوتله چې پر دپلوماتیک دریځ یې هېڅ داسې ځای نه ؤ پرې ایښی چې د کړکېچ د سړولو لپاره د اړتیا پر وخت فعال شي.
تهران د خپل مهم قوماندان سلیماني په وژنه کې چې د امریکا له لوري تر سره شوی یو جنګي عمل ویني چې د تهران په نظر د امریکا د نورو جنایي کارونو له لړۍ څخه یو دی.
امریکا د لاندې دوه لاملونو له وجې د سیمه ایزو هیوادونو ترمنځ مذهبي او سیاسي اختلافاتو ته لمن وهي: لومړۍ دا چې سیمه کې پراخې طبعي زیرمې دي او ستراتیژیک موقعیت لري.او امریکا غواړي د خپلو ګټو لپاره په سیمه کې پراخ سیاسي او نظامي حضور ولري.
دوهمه دا چې امریکا په نړۍ کې د وسلو تر ټولو ستر تولیدونکی هیواد دی، او دا خبره طبعي ده، چې د وسلو د خرڅلاو بازار هغه مهال ګرم وي، چې د هیوادونو ترمنځ تشنج او اختلافات وي. او همدا لامل دی، چې تېر کال په سعودي عربستان او متحده عرب اماراتو نړۍ کې له امریکا څخه ترټولو ستر د وسلو پېرودنکي هیوادونه وو.
**د ایران ستراتیژي:** د ایران د ستراتیژۍ زما په اند مخ په وړاندې دفاع یې تاکتیک دی. دا په دې معنی چې ایراني ځواک کوښښ کوي چې په ناڅاپه خپل اقدام سره د دښمن قوتونه حیران کړي او په دې توګه یې له خپلې خاوري څخه لیرې وساتي. یعني ایران کوښښ کوي چې له خپلې خاورې څخه دباندې دښمن وځپي.
د امریکا د سمندري پوځ متقاعد جنرال پاول فان ریپر وایي چې بعضې وخت د ګڼ شمېر مارانو په پرتله د یو واحد لوی ایږ سره جګړه کول آسانه او د اټکل وړ وي. یعني ایران ښایي

(c) ketabton.com: The Digital Library


د مخامخ او مستقیم جنګ پر ځای نورې لارې غوره کړي. پاول فان زیاتوي چې البته دا هم یو حقیقت دی چې هره جګړه خپل ځان ته جلا تحرک لري او د نړۍ هېڅ دولت او حکومت په دقیقه توګه مخکې له مخکې د یوې جګړې پایلې او عواقب نه شي محاسبه کولای.

**د امریکا او ایران ترمنځ مخامخ جګړه:** له هغه وروسته چې امریکایي الوتکو د عراق په پلازمېنه بغداد کې د ایران د سپاه پاسداران د بهرنۍ څانګې نامتو قومندان، جنرال قاسم سلیماني ووژه، د دواړو هېوادونو ترمنځ لانجو او ګواښونو زور اخیستی، تر دې چې، ځینې دا ویره احساسوي چې ښایي د دواړو هېوادونو ترمنځ مخامخ جګړه ونښلي. د افغانستان په شمول د ایران نور ګاونډي هېوادونه هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د لانجې له پراختیا اندېښنې لري. منځني ختیځ کې هم ددې لانجې په تړاو پراخ بحثونه کېږي، ځینې یې د خورا خطرناکې اوږدمهاله جګړې اټکل کوي.

ایران د امریکا برید د نړیوالو اصولو خلاف کړنه بولي او ګواښ یې کړی چې د خپل نامتو قومندان سلیماني غچ به اخلي. امریکا وایي پر سلیماني یې په دې خاطر برید وکړ، ځکه هغه د یو شمېر امریکایي نظامي او ملکي وګړیو د وژل کېدو عامل و. د امریکایي ولسمشر ډونالډ ټرمپ مرستیال، مایک پینس تازه څرګنده کړې چې سلیماني په ۲۰۰۱ز کال کې د سپټمبر د ۱۱مې، لس بریدګر د ایران له لارې افغانستان ته لېږلي وو. امریکا له هغه وروسته د ایرن پر ضد ورته ګام واخیست چې په بغداد کې د امریکا سفارت له سختو ګواښونو سره مخ شو. امریکا ددې ګواښونو پړه پر ایران اچوي. امریکا پر ایران تور لګوي چې د قدس ځواک پر مټ په

(c) ketabton.com: The Digital Library


لبنان کې د حزب الله، په عراق کې د حشد شعبی، په سوریه کې د فاطمیون لښکر او په یمن کې د انصارالله په نومونو ډلو سره اړیکې لري او د هغوی هراړخیز ملاتړ کوي.

د ایران او امریکا لانجې اوږده مخینه لري، دواړه هېوادونه یو بل ته سخت ګواښونه کوي، تازه اندیښنې دادي چې ددې ګواښونو پایلې به خطرناکې وي، تر اوسه نه ده جوته چې امریکا او ایران به مخامخ جګړې ته ننوځي، که به یو ځل بیا، په سیمه کې نیابتي جګړې ته زور ورکړي.

اوسنیو حالاتو ته په کتو سره د امریکا او ایران ترمنځ د مخامخ جګړې امکان کم دی. ښايي د امریکا کانګریس او ملت له امریکايي حکومت سره په منځني ختيځ کې له عراق وروسته یوه بله اوږده، لویه او د لوړو لګښتونو لرونکې جګړه، ونه مني. بل لور د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې ښايي چین او روسیه دواړه، هڅه وکړي چې ددې جګړې مخه ډب کړي. له اسرئیلو پرته ښايي د امریکا نور نړیوال ملګري، نه یواځې له دې جګړې سره ملګرتیا ونکړي، بلکې د جګړې په لګښتونو کې هم ملاتړ وسره ونکړي، پایله دا چې؛ په ورته حالاتو کې امریکا نه غواړي له ایران سره نېغې جګړې ته ننوځي.

که څه هم ایران ستراتیژیک ملګري لري، خو دا چې چین او روسیه دواړه په روانه لانجه کې مخامخ ښکېل نه دي، ځکه نو د لویې او مخامخ جګړې امکان کم برېښي. ایران له یو شمېر جدي ګواښونو سره مخ دی، نشي کولای د نړۍ له یوه ځواکمن هېواد سره اوږدې جګړې ته ننوځي. د ایران اوسنی اقتصادي حالت چې د تېرو څو کلونو پرلپسې اقتصادي بندیزونو ځپلی، نشي کولای د جګړې درووند بار پورته کړي. په ایراني نظام کې دننه ډېر اندونه د

(c) ketabton.com: The Digital Library


مخامخ جګړې مخالف دي. په کور دننه يې لاريونونه او اختلافات بل اړين بحث دی چې د جګړې له پيل سره به لا زور اخلي، دغه مخالفتونه ښايي د ايراني نظام پر وړاندې د يوه ګواښ په توګه يو ځل بيا را څرګند شي. دواړه خواوې له مخامخ جنګ څخه ويريږي ځکه که چيرې جنګ ښخ شي خامنه ای به ضرور د خپل قدرت او چپنه په کښې بايلوي، او امريکا به هم زيات تلفات او خسارات ووينې.

امريکا کې په کور دننه د ايران سره ټکر جدي غبرګونونه راپارولي، ډيموکراتانو د ټرمپ دا چاره خپل سرې کړنه وبلله او د جګړې د قومندان په توګه يې په کنګره کې د هغه د واکونو د کمولو په لايحه کار کوي، دارنګه په نړيواله کچه د امريکا دوديز ملاتړی هم هومره جدي نه ښکاري، سعودي چې د امريکا په هره فتنه کې لکه ناتار مچ لتاړې وهي امريکا ته خپل استازي د کړکيچ د کمولو لپاره ليږلي. روسيه او چين چې په امنيت شورا کې د نړيوالو غبرګونونو د ويټو حق لري پدې موضوع کې تقريباٌ د ايران په خواه کې او د پوتين ناڅاپي سفر دمشق او بيا ترکيې ته هم د امريکا، ايران او سيمې لپاره بې پايلو نده. تر ټولو مهمه دا چې په عراق کې د تيرې يوې اونۍ بدلونونه هم امريکا ته په سيمه کې د مشروعيت او اوږدمهاله شتون په لار کې د ستراتيژيکې ماتې په معنا ده.

## د سليماني وژنه او افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library


که څه هم په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه دفتر یا یوناما مرستیال ټوبي لانزر له بي بي سي سره په یوه ځانګړې مرکه کې ویلي، هیله لري چې د جنرال سلیماني وژنه به پر افغانستان ناوړه اغېز ونلري.
دې ته په کتو سره په ملګرو ملتونو کې د عمومي منشي په ګډون د زغم غوښتنه شوې او موږ دلته په کابل کې حالات په ځیر سره څارو او زه هیله لرم چې بده پیښه به نه کیږي او داسې څه به ونشي چې په افغانستان کې هر ځوک اغېزمن کړي ځکه چې په افغانستان کې هیڅوک نور تاوتریخوالی نه غواړي.

## افغانستان ته ځینې متوجه احتمالي ګواښونه :

۱- د جنرال سلیماني په وژلو سره به په قطر کې د طالبانو او متحده ایالاتو ترمنځ د افغانستان د سولې مذاکرات چې یو نوي پړاو ته ننوتلي بې نتیجې او یا به هم د یو وخت لپاره متوقف شي او د افغانستان موضوع به د متحده ایالاتو او سېمې هېوادونو له نظره وغورځي.
۲- دا چې د امریکا او ایران ترمنځ په دومره کړکېچنه لانجه او ګواښونو سربیره بیا هم د مخامخ جګړې امکان ډېر کم دی، نو څه به کېږي؟ تر ټولو لویه اندېښنه په سیمه کې د نیابتي جګړې پراختیا ده، چې تر بل هر چا یې لوی زیان د ایران ګاونډیو هېوادونو ته رسېږي. که څه هم ددې جګړې ډېر تمرکز به پر منځني ختیځ په ځانګړې توګه پر عراق او سوریه باندې وي، خو افغانستان هم له دې احتمالي ګواښ څخه خوندي نه دی. د سلیماني د وژل کېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library


په غبرګون کې ځينو افغان سياستوالو سليقوي اعلاميې خپرې کړي، خو د دولت دريځ معقول، بې طرفه او د هېواد اوسنيو حالاتو ته په کتو سره يو مناسب اقدام ګڼل کېږي.

که خدای مکړه د دواړو هېوادونو ترمنځ پراکسي جګړه زور اخلي، يوه لويه انديښنه داده چې ښايي ايران په مرکزي افغانستان کې د فاطميون لښکرو لپاره بستر جوړ کړي او هماغلته د امريکايي ځکو پر خلاف بريدونو ته زور ورکړي. دا کار ښايي د افغان حکومت لپاره يو سرخوږی شي، خو د افغانستان د نظامي ځواک پياوړتيا ته په کتو سره ښايي دا ځواک ژر وځپل شي او ددې توان پيدا نکړي چې خپلې جګړيزې رېښې وغځوي.

بله انديښنه داده چې ښايي ايران د طالبانو پر لاس له امريکا غچ واخلي او يا هم د خپلې نيابتي جګړې د پراختيا لپاره په افغانستان کې له دې تحرکي عامل څخه ګټه پورته کړي، خو ددې احتمال پر وړاندې هم خنډونه شته؛ افغان طالبان هر کله وايي، چې هغوی هيڅ نړيواله اجنډا نه لري، دې خبرې ته په کتو سره، د طالبانو رهبري ښايي د امريکا او ايران ترمنځ لانجه کې د ښکېلتيا څخه ډډه وکړي.

پاکستان د امريکا ستراتيژيک ملګری پاته شوی، د پاکستاني نظاميانو د روزنې هغه پروګرام چې امريکايي ولسمشر ډونالډ ټرمپ درولی و، تازه بيرته په پيليدو دی، که امريکا يو ځل بيا پاکستان ته د مرستو لاس ور اوږد کړي، پاکستان کولای شي پر طالبانو فشارونه زيات کړي چې د امريکا په خلاف د ايران ملګرتيا ونکړي. د افغانستان د سولې پر بهير هم ښايي د ايران او امريکا اوسني مخالفتونه اغېز پرېباسي، خو دا به په دومره کچه نه وي چې خدای مکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library


بيخي دا بهير په ټپه ودربږي. په دې چاره کې هم امريکا د پاکستان له نفوذ څخه ګټه پورته کولای شي.

۳- افغانستان به پر يو رقابتي ميدان بدل شي چې دا کار به افغانستان په سېمه کې بې اعتباره، او د افغانستان استقلاليت به تر سوال لاندې راولي.

## که جګړه ونښلي، زموږ ګټه به څه وي؟

- هغه جګړه چې د جګړې د جغرافيې او د سيمې د سياسي جغرافيې د تغير زيږنده ده ،پيليدونکي ده.

په دې وروستيو کې د زياتو اختلافونو له امله په سيمه کې د امريکا او ايران ترمنځ يوه نوې جګړه پيليدونکې ده.که څه هم ددواړو هيوادونو تر منځ اختلافات اخري اوج ته رسيدلي او جګړه پيل شي، پر افغانستان به يې منفي تاثيرات دومره نوي بلکه مثبت تاثيرات به له ځانه سر ولري.ددې جګړې پيل سره به د افغانستان ۴۰ کلنه جګړه ختمه او شايد د تل لپاره ورته د پای ټکی کيښودل شي. د امريکا او ايران ترمنځ جګړه به نه يواځې د افغانستان ۴۰ کلنې جګړې جغرافيې ته تغير ورکړي بلکه د وخت په تيريدو سره به د سيمې سياسي جغرافيې ته هم تغير ورکړي او د همدې لارې به دا جګړه پاکستان ته هم سرايت او نفوذ وکړي په افغانستان کې دا ځينې پاکستان او ايران پلوه مصنوعي سياسي ډلې او سياسي مبصرين په دې اند دي او ټوله ورځ تبليغ کوي وايي: که چيرې دا جګړه پيل شي د افغانستان په سياسي ،اقتصادي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


سوداګريز وضعيت به ډير منفي او بد تاثير وکړي او د نظامي پلوه به هم افغانستان په دغه اور کې نور هم ښکيل شي چې په نتيجه کې به افغانستان د سيمې د قدرتونو د جګړې ډګر شي دا ددوي څه ډول قضاوت او تحليل ده؟جنګ به دايران پر خاوره کيږي، د جنګ ميدان به افغانستان وي؟

هغه ظالم ګاونډي هيوادونه چې ۳۰-۴۰ کلنو راهيسې يې د افغانستان په بې ثباته، ناامنه کولو،وژلو او ورانولو کې يې خپله ټوله انرژي مصرف کړې، هيڅکله يې د افغانانو وژلو ته دمه نه کړې او نه يې پر افغانانو اسلامي ترحم، او نه يې انساني کرامت ته قايل شوي دي.دغه ګاونډي هم دا هڅه کړي چې د خپلو شومو اهدافو ترلاسه کولو لپاره يې په افغانستان کې د جنګ ميدان ګرم ساتلی، اوس چې پر ايران دا نوي جګړه پيليدونکي ده، زموږ جلاالتمآب ولسمشر محمد اشرف غني که څه په دغه شخړه کې د ډيپلوماتيکي اصولو له مخې د افغانستان موقف بې پرې څرګند کړ او هيڅ اړخ کې يې ځان واقع نه کړ، د ستايلو وړ دی، ولې د افغانستان ولسمشر ښخه مو هيله داده چې په خفيه ډول کولای شي د خپل سياسي او شخصي نفوذ نه کار واخلي تر څو د ټرمپ په اداره کې ددې جنګ ګرمولو لپاره لابي وکړي او همدارنګه د سعودي عربستان په شاهي حکومت کې هم ددې جګړې ګرمولو او شروع کولو لپاره لابي وکړي، حداقل تر څو د افغانستان يو بد مداخله کوونکي ګاونډي د ځمکې له نقشې ښخه محوه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


- د افغانستان په ما رکيټونو کې به د ايراني کمپنيو سوداګريز مال کم،او ځای به يې افغاني محصولات ونيسي.
- طالبان به هڅه وکړي چې لدې جنجاله ځان لرې وساتي او د امريکا سره د سولې موافقه تر لاسه کړي. امريکا مجبوره ده او بايد تر خوړ ګوتې ونيول شي.
- ټرمپ به هڅه وکړي چې د افغانستان جبهه وتړي او دېته اجازه ور نکړي چې ايران په افغانستان کې مشکلات ورته خلق کړي.
- په زرګونه هزاره ګان چې وار له مخې يې ايران په منځني ختيځ کې په فاطميون کې جنګوي، د شهادت جامونه تش کړي.
- زموږ صنعت، زموږ جګړه ده. هيڅ ملت دې بې صنعته نشي. مانا جګړه د پيسو باران دی که پر ايران و اوري، موږ ته يې څاڅکې او سوړ شمال راځي.
- ايران په فرهنګي حوزه کې زموږ ستراتيژيک دوښمن او د ارزښتونو لومړی لمبر غل دی. د امريکا څپنه يې هرومرو له پښو غورځوي. ټول پوهېږو، چې امريکا په کوم هېواد کې جګړه کړې، بيا هغه هېواد په کونه نه دی کېناستلی نو ګاونډي ته هم همدا برخليک ګوري.
- که د ايران رژيم نسکور شي، دلته به يې د غلامانو /ټوټاپيانو /روشنايانو هوا ووزي او افغان دولت به ددوي له شر څخه خلاص شي.

**افغان حکومت بايد څه وکړي:** د افغانستان حکومت ته په کار ده چې له يوې خوا خپله بشپړه بې طرفي وساتي، له بلې خوا پرې نه ږدي چې د افغانستان خاوره د کوم بل هېواد پر

(c) ketabton.com: The Digital Library


ضد وکارول شي، په دې کار سره کولای شي چې احتمالي ګواښونه لیرې کړي. له امریکا سره د یوه ستراتیژیک ملګري په توګه خپلې اړیکې وپالي او له ایران سره د تېر په څېر د یوه ګاونډي هېواد په توګه پر درناوي سربیره د سیمه ییزې همپالنې د نظریې پر بنسټ ورسره سیمه ییزې مخامخ او نا مخامخ همکارۍ او اړیکې وپالي.

## د قدس ځواکونو نوی قوماندان اسماعیل قاآني



په بغداد کې د جنرال قاسم سلیماني له وژلو څو ساعته وروسته د ایران مذهبي مشر علي خامنه ای، اسماعیل قاآني د هغه د ځایناستي په توګه وټاکه، نوموړی له تېرې پیړۍ له اتیایمو کلونو راهیسې د سپاه پاسدارانو له مهمو او مشهورو مشرانو څخه ګڼل کیږي، دعراق ایران په جګړه کې یې رول ډېر مهم بلل شوې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


قاآني د خراسان ولایت په مشهد کې په ۱۹۵۸ کې زیږېدلی دی، د سیمې په یو شمېر هېوادونو کې د لاسوهنې ملاتړی دی په ځانګړې توګه په سوریه او عراق کې نوموړی دې جګړو ته د (برخلیک ټاکنو) هغو په سترګه ګوري، دنظامي سلاکار په توګه یې په کې ونډه هم اخستې ده. اسماعیل قاني ته د جنرال سلیماني د سیوري په سترګه کتل کیږي ځکه د همده په څېر سخت دریځه دی، دسلیماني ښی مټ وو.

لواء فاطمیون رامنځته کول د اسماعیل قاآني طرحه او پلان و، چې په ۲۰۱۴ ز کې عملي شو او په سوریه کې د بشار الاسد له ملاتړ لپاره ترې کار واخیستل شو. قاآني په قدس ځواکونو کې کومه نوې او تازه کاره څېره نه ده.

هغه نه یوازې دا چې د قدس ډلې د تاسیس له پیل راهیسې په دې ډله کې له دریو لسیزو حضور لري بلکې په تېرو دولسو کلونو کې یې د قاسم سلیماني مرستیالي او د هغه د ځای ناستي دندې مخته وړلې. قاآني دوه لسیزې د جنرال سلیماني د مرستیال په توګه دنده ترسره کړې ده، په سپاه پاسدارانو کې یې مهمې دندې تر سره کړي دي، مهمې یې په افغانستان او پاکستان کې د عملیاتو مشري وه.

قاآني د خراسان ولایت دی چې د افغان جنګیالیو نه جوړې د فاطمیون په څېر د ایران پلوه ډلو د فعالیتونو اصلي مرکز بلل کیږي. د فاطمیون په څېر په افغانستان کې د ایران د نیابتي ډلو سره د قاآني د همکارۍ مخینه د ایران او عراق د جګړې وخت ته ورګرځي. اسماعیل قاآني د ایران او عراق د جګړې پر مهال د خراسان ولایت د جنګیالیو د دوو اصلي ډلو امام رضا ۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


او نصر پنځم لښکر قومندان و. اکثر افغان جنګيالي چې د ایران په ګټه د عراق په ضد جنګېدل د همدغو ډلو غړي و.

هغو افغانانو چې د امام رضا ډله او نصر پنځم لښکر کې د حضور تجربه درلوده او وروسته هم د سپاه تر نظر لاندې د افغانستان په کورنيو جګړو کې ښکېل شول، د قاسم سليماني او د هغه د ځای ناستي اسماعيل قاآني په قومندانۍ سره يې د سوريې په کورنيو جګړو کې برخه واخيسته چې هدف يې د بشار الاسد د رژيم ملاتړ و.

د سوريې په جګړه کې د فاطميون ډله تر دې اندازې د قاسم سليماني او اسماعيل قاآني پام ور واړاوه چې کرار کرار دا ډله په لښکر بدله شوه. د افغانستان يو شيعه وګړی عليرضا توسلي چې د ايران او عراق د جګړې تجربه يې هم درلوده او په ابو حامد مشهور و د فاطميون ډلې اصلي بنسټګر بلل کيږي. دی په ۱۳۹۳ کال کې په سوريه کې ووژل شو.

د دغو افغان جنګياليو له ډلې يو شمېر په سوريه کې د رژيم د مخالفو ډلو له خوا نيول شوي هم دي چې وايي ايران له خوږې ګوتې ونيول او د دوی له مجبوريته يې استفاده وکړه.

د افغانستان د اجراييه ريس مرستيال او د افغانستان د خلکو د اسلامي وحدت د ګوند مشر محمد محقق بيا په ۲۰۱۷ ميلادي کال کې ايران ته تللی و او هلته يې د فاطميون او هغو ټولو جنګياليو ستاينه کړې وه چې د ده په خبره د داعش پر وړاندې جنګېدل.

د منځني ختيځ د مطالعاتو د انستيتوت د يوه څېړنيز راپور له مخې چې په ۲۰۱۸ ميلادي کال يې خپور کړ د فاطميون د يوه قومندان محمد حسن حسيني په حواله ويل شوي و چې له ۱۲ زرو تر ۱۴ زرو جنګيالي په فاطميون کې شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ویل کېږي چې د دغو افغان جنګیالیو کورنیو ته چې اکثر یې په ایران کې دي د ایران د حکومت له خوا پیسې ورکول کیږي او ځینې نور امتیازات.

افغان حکومت تل د نیابتي جګړو مخالفت ښودلی او وروسته له هغه چې دوه کاله دمخه د سوریې په جګړه کې د څه باندې دوو زرو افغان جنګیالیو د وژل کېدو خبرونه خپاره شول افغان سیاستوالو تُند غبرګونونه وښودل.

حکومت ټینګار وکړ چې له هېواد دباندې له نیابتي جګړو سره مخالفه دی او باید د افغانانو وینې د پردیو د ګټو لپاره تویې نه شي.

**بامیانو ته د قاآني د تګ ادعاوې:** کله چې قاانی د سلیماني ځایناستی اعلان شو، نو افغان خواله رسنیو کې داسې تصویرونه او ادعاوې خپرې شوې چې ګواکې ښاغلی قاآني په مستعار نامه یو کال مخکې د ایران د سفیر د مرستیال په توګه بامیان ته تللی او هلته یې له والي سره کتلي دي. د بامیان والي وایي، هغه مهال د ښاغلي اسماعیلي په نامه کس د ایران له سفارته دغه ولایت ته ورغلی و.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت سرپرست ادریس زمان په کابل کې د یوې خبرې غونډې پر مهال بي بي سي ته وویل چې ښاغلي قاآني هېڅکله په افغانستان کې د ایران د سفیر د مرستیال په توګه کار نه دی کړی:

موږ دا موضوع څېړو چې دا سفر څه وخت او په څه ډول شوی او موخه یې څه وه. په دې غور روان دی. اوس دومره درته ویلی او تاییدولی شم چې ښاغلی قاآني هېڅکله د ایران د

(c) ketabton.com: The Digital Library


سفیر مرستیال نه و، د رپوټونو له مخې اسماعیل قاآني د قدس د ورځنیو نظامي چارو د سمبالولو مسوولیت درلود. دې اداره کې د نوموړي د لوړې رتبې له امله امریکا پر ۲۰۱۲ کال پر نوموړي بندیزونه ولګول.

د امریکا حکومت وایي دا بندیزونه یې ځکه ولګول چې ښاغلی قاآني په بهر کې د قدس ځواکونو پر عملیاتو کار کوي.

کله چې ایت الله خامنه یي د قدس لپاره قاآني مشر ګوماره نو ویې ویل، قدس به له کوم بدلون پرته کار کوي.

**قاآني به د سلیماني په څېر اغېز ولري:** اوس پوښتنه دا ده چې ښاغلی قاآني به د قاسم سلیماني په څېر اغېز ولري که نه؟ زما په اند، سپاه پاسداران ته په کتلو د شخص د فردي اغېز په ځای خپله اداره ډېره ځواکمنه ده.

دا ګرانه ده چې بیروکراټ قاآني د خپل پخواني مشر په څېر اغېزناکه مشري وکړي، خو بیا هم داسې ښکاري چې د قدس ځواکمن اغېز له امله به قاآني هم اغېزناک وي.

زما په اند قاآني به سملاسي نوي پلانونه پیل کړي، د ایران سپاه پاسداران پر یو کس دومره تکیه نه کوي، د سلیماني د وژلو اغېز به وي، خو له امله به یې د ایران سیمه ییز عملیات او شبکې ډېرې اغېزمنې نه شي او د بدلې اخیستلو هڅې به هم وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# اخيځليکونه

- فريف، بروشو، نيروهاي قدرتمند منطقه و جهان، ژبا ړه.
- راپور راديو فردا بخش ايرانی راديو آزادی در مورد تمرينات، رهبري ، و قوت نيرو قدس، سال ۲۰۱۸.

- http://president.gov.af/
- http://vpo.gov.af/
- http://www.drabdullahabdullah.com/
- http://Twiter.com/pres.Karzai.
- http://www.hsc.gov.af/
- www.feacbook.com/pres.Rahmatullah Nabil
- http://www.tolonews.com.tv.
- http://www.bbc.com.uk/news
- http://e-visa.mfa,ir

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**